





# سفرنامه

Download from:aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحيم

Contents


پیل ........ 6
ډالۍ ........ 6
دسریزې پرځای یوه څغلنده کتنه ........ 6
دلیکوال سریزه ........ 9
مننه ........ 10
لومړی څپرکی ........ 11
دسفرپیل اوپخوانۍ خاطرې ........ 11
دویزې اخیستلوستونزه ........ 12
دالوتکې دټکټ رانیول هم یوه لانجه وه ........ 12
دهندوستان په لوري الوتنه ........ 12
خپل ګران هیوادته ترډېروکلنووروسته سفر ........ 13
دکابل په ښارکې لیدنې اوزماسوچونه ........ 14
دکابل ښاردناپاکه چاپیریال سره دښاریانوستونزې ........ 16

# سفرنامه

ليكوال: ابراهيم نعيمي
دليکلونيټه: مارچ ۲۰۱۱ زکال
په بريښنايي بڼه خپورشو

## په دې ليکنه کې:

۱ ــ ډالۍ
۲ ــ دسريزې پرځای يوه څغلنده کتنه     پوهنمل حاجي محمد نوزادي
۳ ــ دليکوال سريزه
۴ ــ مننه
لومړی څپرکی
دسفرپيل اوپخوانی خاطرې
دويزې اخيستلوستونزه
دالوتکې دټکټ رانيول هم يوه لانجه وه
دهندوستان په لوري الوتنه
خپل ګران هيوادته ترډيروکلنووروسته سفر
دکابل په ښارکې ليدنې اووزماسوچونه
دکابل په ښارکې دښاريانوستونزې دناپاکه چاپيريال سره
دکابل ښاردعامه کتابتون ليدنه اوزماعرض پاڼه ولسمشرته
دهيوادولسمشرته معروضه
د ۱۹۷۲ زکال دروزګارپه ورځپاڼه کې خپاره شوي شعرپه خواب کې
دافغانستان دښځوچاروو‌زارت اود نورواړوندوچارواکوسره ليدنه

دنثاراحمدبهاوي سره مرکه

ددووماشومونجونوازموينه

# پیل

## ډالی

دالیکنه دهیوادهغه غم ځپلوپلرونواومیندوته وړاندې کوم چې خپلوبچوته په دغه ترینګلوحالاتوکې دهیوادپالني احساس ورکوي اوهره شیبه یې په غوږونوکې د هیواداو ولس سره مینه زمزمه کوي.

## دسریزې پرځای یوه ځغلنده کتنه

هیوادته دسفریادابښتونه په حقیقت کی دیوتارومارشوی وطن خاطری دی اوداسی خاطری تل پخپله هم تارومارې وی داځکه چې دطبیعت هراغیزپه حقیقت کی دژوندی ارګانیزم هغه غبرګون دي چې دخارجی چاپیریال په وړاندی یی دځانه ښیی.

ځوک چې کلونه کلونه وروسته دارووپایی پاسپورت سره وطن ته ولاړشی، هلته هر څه په خپلوسترګووینی، دخپلوخلکوترمنځ ځانته ددرناوی په احساس سره به خامخا د صدیق کاووَن لاندی شعرچې په غربت کی یی ویلی دی، وریپیادکړی:

هلته می سرووتراسمانه اوچت  
دلته پردی یم، خیرات خورمی ګنی  
هلته اتل وم زه پرخپله خاوره  
دلته بی ویاړیم اوتورمی ګنی

انجنیرمحمدابراهیم نعیمی دکابل پولیتخنیک په انستیتوت کی زما دهغه وخت د شاګردانوڅخه دی چې په هیوادکی ددموکراسی لسیزه تازه پای ته رسیدلی وه اود جمهوریت په رارسیدلوسره د ځوانانو تاوده احساسات تریوی کچې راضی ښکاریدل، دنوو امیدونودغوټیو وسړیدلوته یی انتظارکیښ. نوموړی نه یوازی دلایقو شاګردانو په ډله کی وو بلکه ځوان استعداد یی دخپلو تولګیوالو تر منځ یو ډول مخکښ رول لوباوه. دی بختور بولم چې په وطن کی یی تنظیمی ناورین په خپلو سترګو ونه لیدی اود ډاکترنجیب الله دواکمنی دځپځپانده کیدوسره سم دوطن نه په وتلو بریالی شو. دی څه کم دوی نیمی لسیزی وروسته تیرکال د ډنمارکی پاسپورت سره لومړی ځل وطن ته ولاړ.

انجنیرنعیمی په دی وروستیو وختونو کی چې اوس دهری ورځی په تیریدو سره د سپینو وینتانو د مرغلرولړی دځوانی به بیعه رانیسی، ولیکلو ته مخ اړولی دی. ددی کاردپاره ده د روزولو اړین استعداد درلود، خو ناوخته یی په کار واچاوه. همدا اوس چې په لیکلولګیادی، په دومره زیاته حوصله مندی سره کارکوی چې زه یی دستایلو وړ ګنم. کله چې دی اړین وبولی، خپلی یونیم لیکنی ترنشردمخه ماته هم رالیږی چې دچاخبره یوځل پرتیرشم اوکه ضرور وی، نولږګوتی هم پکښی ووهم. تیره ورځ یی تلیفون راته وکړاوویی ویل چې یوشی می لیکلی دی، یوځل یی وګوره اوهیله یی وکړه چې یوه لنډه کی سریزه هم پری ولیکم.

دالیکنه چې همدا اوس یې تاسو په لوستلولګیا یاست ، دده هغه خاطرې دې چې تیرکال یې دبیارغیدلو په درشل کې دتارومارشوی وطن نه ورسره راوړې دي. لکه څنګه چې د وطن کوځې درغیدلو په درشل کې نور هغه د ارواګانو کلې ندې چې لس دوولس کاله پخوا وو، همدارنګه دده خاطرې هم دکنډوکپړو سړکانو تر څنګ د لوړو بلډینګانو داروپایي ښکلا نښانې هم ورسره تر لویه بریده لرې. هغه کسان چې د ډیروکلونو راهیسې وطن ته ندې تللې، په لوستلوبه یې خامخا خوشحاله سی. لیکونکی دخپل سفرموخه لکه څنګه چې دی لیکی ، داسې ټاکلې وه:

- دهیواد او دوستانو بیا لیدل ،
- دخپل ۹۷ کلن بوډا پلارلاسونه مچول ،
- په هیوادکې دښځودژوندپه هکله د پرمختیاوو څیړل .

داهغه څه دي چې وطن ته درسیدو سره سم ، ده ګام په ګام په پام کې نیولي اوخپل یاداښتونه یې په انځوریز، ویډویی او همدارنګه لیکلې بڼه سره راغونډ کړي دي. پراخې لیدنې کتنې یې کړیدي، میلمستیاوو ته تللی دی، په میلوکې یې ګډون کړی او په دې توګه یې دسفرڅخه پوره خوند اخیستی دی.

دی چې دځوانۍ له وخته دلطیف جنس دنازکواحساساتو څخه اغیزمن وو، اوس غواړي دځوانۍ سره دبشپړې خدای په امانی نه مخکې ددغه لطیف جنس وروستي درناوی دښځو د حالت په هکله دیوکتاب په لیکلو ترسره کړي. ترهغه ځایه چې زه معلومات لرم دنوموړي کتاب کارونه یې دپای ته رسیدو په درشل کې دی چې . ده هلته دښځو په اړوند ترلویی کچې و یو لړ ټولنیزو او ورځنی چاروته پاملرنه کړې ده. عشق اومینه چې دې ورسره په وریښمینو تارونو تړلې او دانسانی ژوند دمعنوی اړخ بنسټونه جوړوي، ده په خپل کتاب کې ترډیره حده دپامه غورځولی دی. زما په اند به ښه دا وای چې دکتاب وړه برخه دښځو و ټولنیز، اقتصادی، سیاسی اړخ ته جدا شوی وای او پاته ډیره برخه یې دعشق اومینې په چاروکې دځوانانو و روزلو ته ځانګړې شوی وای. پدې توګه به هم دکتاب لوستل په زړه پوری ګرځیدلی وای اوهم به ځوانان داخلاقی فساد او ناوړو سکسی اړیکو په زیانونو باندې پوهیدلی وای. فکر نه کوم چې کتاب به په اوسنی بڼه ان دښځو ترمنځ هم پراخ لوستونکی ترلاسه کړي ، دا ځکه چې دکتاب حجم یې ډیر زیات او څیړل شوی موضوګانې یې تر لویه بریده یکنواخته دي .

ښاغلی نعیمی په دغې اوسنۍ لیکنی کې چې ده دسفرلیک (سفرنامه) پنامه نومولی ده، ځوځایه یادونه کړې چې ددې یاهغې خبرې تفصیل به د ښځو په هکله دده په راتلونکی کتاب ولولی. دایادونې دداسې موضوعګانوپه هکله شوی چې دتفصیل لوستل یې په مشکل سره د یوه پنډ کتاب دلوستلو لیوالتیا را پارولای شي.
په دغه سفرنامه کې، ده په کابل، کندهاراومزارشریف کې خپلې لیدنې کتنې انځور کړیدي. د کندهار اومزارسفرونه لنډ وو، خوبیاهم ده دخپلو موخو دپاره پراخې هلې ځلې کړې اویوه شیبه یې هم بیځایه نده تیره کړي. ده بیلابیلو اړخونو ته پام اړولی او ورنه اغیزمن شویدی. د سفرنامو لیکل یو ډیرلرغونی دود او د ادب یوځانګړی ژانر دی. لکه څنګه چې وینو انسانی ژوند پخپله یوسفراودټولنې هرغړی یو روان مسافر دی. انسانی ژوند د پیښنو یوه ګډوله ده، هره پیښه دانسان ذهن اغیزمن کوی اودغه اغیز د نوموړي پیښې په وړاندې یو داسې غبرګون دی چې مثبت حالت یې دخوښی اومنفی حالت یې دخفګان لامل ګرځي. خوښی اوخفګان، غم اوښادی د ژوند نه شلیدونکې اړخونه دی چې دهر اړخ نه شتون یې بل اړخ بی مانا کوی. دسفرنامو له مخې داډول غبرګونونه دټولنې نورو غړوته لیږدول کیږي او د وخت په تیریدو سره د تاریخ لیکنې سرچینې ګرځي. دبیلګې په توګه دیوشمیر چینایي، یونانی اونورو دسفر یاداښتونو زموږ دلرغونې تاریخ دلیکلو دپاره دپام وړسرچینې شمیرل شویدي. اوس چې دتخنیک په مرسته دځمکې تناوونه لنډ سوي، خلک ډیرسفرونه کوي، نو ورسره سم د سفرنامو دود هم پیاوړی سویدی. سفرلیکونه دامهال ډیرلیکل کیږي.

که دیول خوا دا ډیروالی دژبې وادب ته خدمت دی، خوله بله پلوه بیا کله ناکله دلیکلو کیفیت ته بشپړه پاملرنه نه کیږی اوپدی توگه دلږ ارزښت وړ توکی د ادبی مرغلروسره یوځای په ارزښت لرونکی خزانه کی اېښودل کیږی.

انجنیرصاحب نعیمی دخپل سفر په لړکی هلته دژوند وبیلابیلو اړخونو ته پام اړولی، تر وسه وسه یی دامکاناتوڅخه گټه پورته کړی، هرڅه چی په زړه پوری په مخه ورغلی دی ، په پټو سترگو ورڅخه تیر شوی ندی، دپخواسره یی پرتله کړی، هربدلون ته یی پام اړولی، پر وړتیاوو یی موسکا کړی او دناوړتیاوو سره یی سترگی لندی سویدی. ده په ډیر زغم داړتیاپر وخت هرچاته دمصاحبی دپاره کچکول نیولی اودهغوی بریاوی اوستونځی یی اوریدلی دی. دلیکنو نه یی داسی ښکاری چی ده دسفرنه مخکی دسفرلیک په هکله سوچ نه ووکړی اوهر څه یی هلته ترسره کړی، هغه ده د خپل نوموړی کتاب پخاطرپه پام کی نیولی وو. معلومیږی چی داسفرنامه یی دهمهغو یاداښتونو څخه راڅخیدلی یو څوکرښی دی. په هرحال ، ددومره بوختیاوسره سره دده زغم اوحوصله په ستایلو ارزی.

دی باید داهم په پام کی ونیسی چی په لیکنوکی دساده تخنیکی نیمگړتیاوو ډیروالی د لیکنو پر کیفیت ډیره اغیزکوی. دا ډول نیمگړتیاوی پدغه سفرلیک کی په نسبتاً پیاوړی پیمانه تر سترگوکیږی دبیلگی په توگه :

- موضوعگانی دیوی ټاکل شوی موخی پربنسټ کټگوری شوی اواوډل شوی ندی.
- په لیکنه کی ترډیره حده ساده شفاهی ژبه کارول شویده.
- دافعالوپه گردان کی کله ناکله دمونث اومذکرتوپیرپه پام کی نه دی نیول شوی.
- کارول شوی ژبه نه د کیسو بڼه لری اونه هم دخپرنیزو  لیکنو.
- په اړوندو ځایونو کی درومانتیزم، عواطفو او احساساتو ښودنه نده شوی. دبیلگی په توگهدباباصاحب په زیارت کی دملنگ کیسی باید په فولکلوریک ډول رانقل شوی وای.
- په تکسټ کی کامه، ټکی، ویرکل، ندائیه اونورپه صیحح توگه او په اړوند و ځایونو کی کارول سوی ندی.
- دکلموترمنځ واټن په ډیرو جملوکی په پام کی ندی نیول شوی.
-  د(ی) ډولونو ته پاملرنه نه ده سوی. دا اړین شی له بده مرغه نور پیاوړی لیکوالان هم ډیر لږ په پام کی نیسی.

ولوړو نیمگړتیاوو ته ورته ډیری نیمگړتیاوی هغه څه دی چی دلیکنی کیفیت کمزوری کوی، پکارده چی پاملرنه ورته وشی اوپه راتلونکی کی په پام کی ونیول شی. هیله من یم چی د سفرلیک په نشر شوی بڼه کی به دنوموړو نیمگړتیاوو ډیره برخه سمون وومومی او لوستونکی به تر وسه وسه خوند تری واخلی . په مینه اوپیرزوینه.

پوهنمل حاجی محمد نوزادی

## دليكوال سريزه

ګرانو هيوادوالو! ددې لپاره چې روان کړکيچونه، ناخوالي اوپه هيوادکي ګټورې چارې دتاريخ په پاڼوکې ثبت شي، اودليکوالانولپاره داوموموادوپه څيرفکټورونه اودسترګوليدلي حالات وړاندې شي، ددې سفرنامې په ليکنه مې پيل وکړ. بايدعرض کړم چې زمادسفرنامې ليکنه ددې په مانا نه ده چې زه دليکوالۍ دعوه وکړم. يوازې هغه څه چې مې ليدلي اواورېدلي دي دلته مې راټول اوتاسو ښاغلو لوستونکوته يې په واک کې درکوم.کله مې چې خپله ليکنه پای ته ورسوله، پريکړه مې وکړه چې خپل معززاستادپوهنمل حاجي محمدنوازادي ته يې ورکړم ترڅو يوه ځغلنده کتنه ورباندې وکړي. معززاستادمې په ډيره مينه ليکنه ولوسته، تروسه يې دجملو جوړښت اونوراړين څه راته جوړکړل. ولې ديومهربان استادپه څير يې زما نيمګړتياوې راپه ګوته کړې چې دې نيمګړتياوته زه بايدښېړه پاملرنه وکړم. ماهڅه وکړه چې داستادلارښوونې په پام کې ونيسم اوهغه نيمګړتياوې چې استادراپه ګوته کړې دي، اصلاح کړم. ولې بياهم هغه خبره ده چې زه انجنيريم اوډيرناوخته مې په ليکلوپيل کړی دی. اسانه نه ده چې په دغه عمردليکوالۍ ټول اړين ميتودونه زده کړم. دژوندترپايه به دزده کړې هڅه کوم. غواړم دښاغلي پوهنمل نوازدي وړانديز چې زمادراتلونکي کتاب په اړونديې لارښوونه کړې ده په لنډډول څوټکي وړاندې کړم:

١- راتلونکی کتاب دبشپړيدوپه حال کې دی چې اوس يې دموخي بدلون لويه ستونزه ده اودبل لوري ماځه دپاسه درې کاله زحمت ورباندی ګاللی دی. هره ليکنه دکټې نه خالي نه وي. زه هيله لرم چې زماراتلونکی کتاب دلوستونکولپاره په زړه پورې شي.

٢ – زمابناغلی استادوړانديزکړی دی چې دکتاب لويه برخه بايددځوانانود جنسي اوسيکسي اړيکوته پاملرنه وی ترڅوافغان ځوانان دناوړه جنسي اړيکوپه ستونزو اوزيانونوباندې وپوهيږي ترڅوکتاب په زړه پورې اوترببوي بڼه هم ولري. دپورته وړانديزپه پام کې نيول دوې اساسي ستونزې لرې:

- دجنسي اړيکوستونزه په افغانستان اولويديزه نړۍ کې دافغان ځوانانوپه تړاو ډيرزيات توپيرلري چې په واقعي ډول ستونزه په لويديزوهيوادونوکې ده. نوددې موضوع په اړه ليکنه بايدپه بهرنۍ ژبه وې که په انګريزې وې نواغيزه اوويونکي به يې زيات وي چې ددي کاردعهدي نه همداوس وتلای نه شم.
- داستونزه دومره ساده اوبسيطه نه ده زياتوڅيړونوته اړتيالري چې دموضوع ټول اړخونه ددلايلوسره بايدوڅيړل شي. دې موخې ته رسيدل کافي وخت ته اړتيا لري.ولې بايدووايم چې موضوع په زړه پورې ده ، هيله لرم چې خدای(ج) توان راکړي چې دخپل استاد دغه هيله په راتلونکې کې بشپړه کړم.

ستاسودوستانواوښاغلوليکوالورغنده لارښوونې به دزړه په غوږوواورم. زه هغه څه په ليکلې بڼه وړاندې کوم چې زماپه وس کې وه. هيله ده چې دنيمګړتياوراته بخښنه وکړئ. په پای کې دخپل معززاستادپوهنمل حاجي محمدنوازادي څخه يوه نړۍ مننه چې ماته يې جوړونکې لارښوونې کړې دي.

په درناوي

محمدابراهيم نعيمي

١٠ / ٣ / ٢٠١١ زکال اغوس – ډنمارک

## مننه

هغه دوستان چې دافغانستان په رنځونکوحالاتوکې ژوندکوي، ولې سره ددې چې د ژونددډول ډول ستونزوسره لاس اوګريوان دي، بياهم دهيواددميلمستياپالنې لوړاو ځانګړی دودېې ترهمدې ګړئ په لوړه کچه ساتلی دی. زمااشنايانودومره مينه اوناز راکړچې ډنمارک ته بيرته راستنيدل غيری معمولی راته ښکاريده. په ځانګړې ډول دخپل ګران دوست ديپلوم انجنيرغلام محی الدين بهاوي اوګران دوست نجيب الله ابراهيم خيل دميلمه پالنې څخه يوه نړئ مننه کوم چې نه يوازې يې زماداستوګنې ټول شرايطه په لوړه کچه راته برابرکړي وو بلکې زمادارونودوچاروپه اجراکې يې زياته مرسته وکړه. د خپلو دغو دوستانو د کورنيو او زامنوڅخه ځانګړئ مننه کوم چې ديو کاکاپه ډول يې دومره درناوی وکړ چې نه هيريدونکی دی. دټولودوستانوڅخه اوهم د اداروودمشرانوڅخه چې زماسره يې زماډپروژې په بشپړتياکې مرسته کړی، دزړه له کومي مننه کوم

په درناوی.

# لومړی څپرکی

## دسفرپیل اوپخوانی خاطرې

د(۲۰۱۰ز) کال دجون دمیاشتې پر(۲۷) مه نیټه دډنمارک څخه دافغانستان پرلوري حرکت وکړاودجولای دمیاشتې تر(۳۰) مې نیټې پورې په خپل پلرني هیواد افغانستان کې وگرځیدم.

په پیل کې غوره بولم پدې هکله هم څوکربښې ولیکم چې څه وخت کډوال شوم اود کومې لارې ډنمارک ته راغلم .

د (۱۹۸۸ز) کال په نیمایي کې کله چې سیاسي اوټولنیزشرایط ورځ تربلې دزغم نه په وتوشول، نو پریکړه مې وکړه چې دافغانستان څخه کوم لورې ته پښې سپکې کړم. داهغه وخت وچې ډاکټرنجیب الله دوخت ولسمشرغوښتل چې ددموکراسۍ دپیاده کولومانورې وکړي. نوځکه يې پریکړه وکړه چې هرڅوک کولای شي د هیوادڅخه وبهرته په ازادانه توگه سفروکړي اوددې موخې لپاره مې پاسپورت ترلاسه کړ. عجیبه نړۍ ده. په پرمختللوهیوادونوکې به داسې څوک په ډیرندرت وموندل شي چې پاسپورت ونلري. دنوي پاسپورت اخیستنه په ډیروهیوادونو کې یوه عادي اوارینه چاره ده. ولې موږپه هغه وخت کې فکرکاوه چې دپاسپورت اخیستلو اجازه ترلاسه کول یوغیبي سوغات دی چې پاک خدای افغانانو ته ورنصیب کړی دی. ماهم دبل هرچاپه ډول عرض پاڼه دکورنیوچاروورزارت د پاسپورت اداري ته ورکړه. خدای سته چې هلته مې څوک پیژانده، ډیرژربې کاررا خلاص کړ. داطبعي وه چې ځان مې یودوکانداراونالوستی په عرض پاڼه کې معرفي کړی و. په دغه وخت کې مې حکومتي دنده پریښودلې وه اوپه رښتیاهم دوکانداروم. کله چې مې امر ترلاسه کړ، بایدعرض پاڼه مې اړوندې څانگې ته چې دکابل دولایت په انگرکې يې موقعیت درلود، دنوروواجراتولپاره وړې وای. ولې ستونزه داوه چې عرض پاڼه د وخت دخاد(خدمات اطلاعاتی دولتي) اداري ته دوروستي پریکړې لپاره لیږل کیده. دانوداسې ښکاریده چې سړی دصراط پرپله تیریږي، ځکه مادخادسره څه لانجې هم تیرې کړې وې، نوځکه مې زړه نه شوای کولای. دابه مې دځان سره وویل چې ویدي بلاوې څه له دخوبه راپاڅوم. ځکه که یې یواربیادرته فکرشو چې اوس هندوستان ته تلونکی دی، کیدلای شي نوری ستونزې رامنځته کړي. په هر صورت عرض پاڼه مې په کورکې دنامعلومي مودې لپاره کښیښوده. ډیروخت وروسته مې میرمنې عرض پاڼه راواخیسته اوپوښتنه يې رانه وکړه چې داپاڼه په کاراچوې اوکه يې له مینځه یوسمه. ښه ده چې زمااندیښنه یوی خواته کړې. خبره رالنډومه، غرض پاڼه مې راواخیسته اودپاسپورټ داخیستلوڅانگې ته ورغلم. زمابخت یاری راسره وکړه، په همدغه ورځ دلوړوچاروا کوزړه نورهم نرم شوی وه اوامریی کړي و چې نور اړتیانشته چې خلک سرگردانه شي اوعرض پاڼې يې د زیاتې څارنې لپاره دخادادارې ته ولیږل شي. داداري اړوندمامورداریری راکړچې کاربه دې ډیرژر درته خلاص کړم ځکه داسې یوامرشوی دی. چې اسناددخاداداري ته نه لیږل کیږي په درې څلوررځوکارخلاص شو. ولې عجیبه تصادف وچې یوه اونۍ وروسته دوستانو کیسه راته وکړه چې بیرته د مهرباني امریه واخیستل شوه اودخلکود سرگردانی دډیروولولپاره بیاهم عرض پاڼې بایدد خاد اداري ته دڅارنې لپاره ولیږل شي. وروسته زمایودوست ډیرځلې مراجعه کړې وه ولې دخادادارې دوتلو اجازه نه وه ورکړې. زه خوددې صراط پل څخه په خیرتیرشوی وم.

## دویزې اخیستلوستونزه

بله ستونزه دهندوستان دویزې اخیستل و. دهندوستان دسفارت مخې ته به په سلګونه خلک په اوږدولیکوولاړوو. یوه ورځ مې یوډاکتردوست راته وویل چې زماسره دهندوستان سفارت ته نژدې پروت، دجمهوریت په روغتون کې شپه تیره کړې. سهاربه دملاداذانه سره سم د هند دسفارت مخې ته ورشې اوپه لیکه کې به لومړی نوبت واخلې داکارمې وکړ. شپه مې په جمهوریت روغتون کې دهنددسفارت سره ډیره نږدې تیره کړه اوډیرله وخته وروخوځیدم. ولې داخل هم بخت یاري ونکړه اوپه همدغه شپه دخلکواو پولیسوتر منځ دنوبت په خاطرډزې وشوې، په دې خاطر بیاهم دویزې په اخیستلوبریالی نه شوم. وروسته مې دخلکو یوچل ته پام راوګرځیدي هغه داسې و چې ښځوته یې لومړی حق ورکاوه. ماهم یوه شپه پرځلوربجې خپله خور په ټکسي کې دخیرخانې څخه دځانه سره راوسته اودسهارپر(۹) بجې زمابخت کار وکړ. اوددونفرودویزې اخیستلواجازه پاڼه مې ترلاسه کړه، ځکه یوې ښځې ته یې یوټکټ ورکاوه چې د دووپاسپورتونوویزه یې اخیستلای شوای. په بله ورځ په عادي وخت کې د ټکټ درلودونکو نوبت و، چې ټیله اوټنبه نه وه. زه هم په لیکه کې ودریدم ولې یوازې یوپاسپورت مې درلود.یواندازه دمیانه عمرکلیوال سړی راته ودرید، چې ستاپه لاس کې یو پاسپورت دی، کیدلای شي چې زماپاسپورت هم واخلې ځکه ستاټکټ د دوونفرو لپاره کاریږي. ماورته وویل هوراېي کړه. سړی پاسپورت راکړ او(۵۰۰۰) افغانۍ یې هم ورسره راکړې. زمادژوندکړه وره بل ډول دي. ما ورته وویل وروره! پیسې دې واخله که څه هم هغه کلیوال سړی وو او ټینګارېې کاوه چې دازماحق دی. ماورته وویل چې په دې پیسوزمادژوندویجاړې نه جوړیږي زه دا کاردخدای(ج) درضالپاره درته کوم. لنډه دا چې دوې ویزې مې واخیستې اوسړي دزړه له کومې دوعاوې راته وکړې.

## دالوتکې دټکټ رانیول هم یوه لانجه وه

بله ستونزه دټکټ اخیستووه. داریانا هوایې شرکت دټکټ پلورلوپه څانګه کې هم ډیرې ټیلې اوټمبې وې، اسانه نه وه چې ټکټ ترلاسه شي. زه باورلرم چې دهغه سړي ددوعابرکت وچې داکارهم اسانه شو. مامخکې وویل چې زه په دغه وخت کې دوکانداروم. مادګل ګنډولودوکان درلود یاني ګنډونکی وم. په دې دوکان کې لږه موده مخکې یوځوان سړی راغی چې د ګلانو ګنډل اوکندهاری خامک دماشین پواسطه زده کړي. همیشه په دوکان کی نه و، ولې چې دوکان ته به راغی دزده کوونکي ټولي دندې یې مخته بیولې. زه دټکټ په سوچ کې وم چې اوس چاته ووایم چې دټکټ په ترلاسه کولوکې مرسته راسره وکړي. دا ځوان ډیرزیرک سړی ویوه ورځ یې راته وویل چې(استاد! دراین روزها چرتی معلوم میشوی، خیریت است؟) مافکرنه کاوه چې دی به مرسته وکړای شي، ماورته وویل خیریت دی. ګومان کوم چې نوموړي زماددوکان دبل شاګردحسین څخه په دې اړوند پوښتنه کړې وه ځکه هغه زمادسفردپلان څخه خبرتیادرلوده. نوموړي په تکرار پوښتنه وکړه. لنډه داچې دټکټ اخیستوستونزه مې ورته ووېله. هغه په خنداراته وویل چې دځونفرواودکومې ورځې لپاره دې ټکټونه پکاردي. مایوه نژدې ورځ ورته وښوده . سباته یې ټکټ تیارراته راوړ.

## دهندوستان په لوري الوتنه

په خوښۍ سره مې د لیندۍ دمیاشتې په(۱۷) مه یاني دجولای دمیاشتې په(۶) مه نېټه سهار وختې چې ټول سرکونه کنګل شوي وو، دخپلې کورنۍ څخه یوې نامعلوم لوري ته دخدای په اماني وکړه. زه هم نه پوهیدم چې چیرته ځم اوکله به دخپلې کورنۍ سره بیاګورم. دکابل هوایې ډګرته دسهارپر(۸) بجې راورسیدم،

سمدستي مې خبرترلاسه کړچې الوتکه وځنډېده اودمازديګرپر(۵) بجې الوزي. لازمه مې ونه ګڼله چې بيرته کورته ولاړشم. دخپل يودوست محمدايوب بوستان سره چې زمادمخه ښې لپاره هوايي ډګرته راغلي و، دلنډوخت لپاره يې دخپل يودوست سره د مکرويانو په يوه کورکې استوګنه کوله. دنوموړي سره کورته ولاړم، غرمه موښه خوندوره ښوروااوخوړه اودخيالي سفرپه اړوندموډيرې کيسې وکړې. مازديګرهوايي ډګرته راغلو، دهوايي ډګرترکيسوکه تيرشم نودمازديګرپرپنځه بجې موالوتکه والوته. زماسره دسفريوانډيوال، انجنيرګل اغا هم ملګرى و. کله چې الوتکه دکابل پرهوايي ډګرفضاته ته پورته شوه بې واکه مې دسترګوڅخه اوښکې جارې شوې اوپه لوړ اوازمې وويل چې زماګرانه هيواده او کابل جانه! دخداى په امان. نه پوهيږم چې بيا به په ژونددرسره ووينم که يا؟ دامې د زړه اوازو. دسفرملګري مې دتسليت څو خبرې راته وکړې، دا بې اختياره اوښکې ځکه زما دسترګونه وبهيدلې چې دخپل ګران هيوادڅخه و نامعلوم لوري ته الوتى وم. که څه هم زه په اسانۍ دکډوالۍ و موخې ته ورسيدم ولې پردي هيوادونه ځانګړې ستونزې لري چې يوازې دخپتې په ډکيدوڅوک نشي راضې کيدلاي.

## خپل ګران هيوادته ترډيروکلنووروسته سفر

په هرصورت پوره(۲۱) کاله هيوادته ستون نشوم. په (۲۰۱۰ز) کال مې دځان سره پريکړه وکړه چې ګران هيوادته سفروکړم. دسفرموخې مې داوې.

- دهيواداودوستانو ليدنه.
- دخپل(۹۷) کلن پلارليدل اودرناوى.
- څنګه چې څه دپاسه درې کاله کيږي چې دافغاني ښځودپه هکله دخيرنيزکتاب په ليکلوبوخت يم نوډيره اړينه مې وبلله چې که کوم پرمختګونه په دې برخه کې رامنځته شوې وي، بايدپه خپلوسترګويې ووينم.

د(۲۰۱۰ز) کال دجون دمياشتي په(۲۷) مه نېټه داغوس دښارڅخه دالمان د فرانکفورت دښارپرخوادټرين پواسطه وخوځيدم. شپه مې په فرانکفورت کې تيره کړه، په (۲۸) مه نېټه هوايي ډګرته روان شوم ټوله شپه مې دهيواددبياليدلوسوچ کاوه، خلکوراته کيسې کړې وې چې دکابل ښارډيرلوى شوى دى. ماهروخت په ټوکوويل چې نيويارک هم شي، خپله لاره به پکښې وموم. که رښتياووايم، باورمې همداسې و. په (۲۹) مه نېټه دسهارپر(۷) بجودکابل په نړيوال هوايي ډګرکې الوتکه راکوزه شوه. ډيرنژدې دوست ښاغلى نجيب الله ابراهيم خيل مې مخې ته راغلى و. هغه ددندې له مخې کولاى شواى، نژدې دبکسونوداخيستنې ځاى ته راشي، ديواوبل په ليدوچې د ښځوپه اصطلاح په تورووپيکيوسره جلا شوى وو، ولې په سپينو ويښتانوموډيرکلونه وروسته په غيږ کې سره ونيول. دپاک خداى(ج) شکرموادا کړ چې ژوندي پاتې يو. ځکه زموږډيرنژدې خپلوان اوعزيزان په جګړوکې له منځه تللي دي. دبکس تررا رسيدو وروسته مود نوموړي داستوګنځې پرلورحرکت وکړ. مادلارې په اوږدوکې اوتراوترهر لوري ته کتل. په يوه وخت کې موپه بيړه پر څوموضوعاتوخبرې کولې. تابه ويل چې يوازې څوشيبې سره لرواوبيرته جلا کيږو. يوځل به مودخپلوانواودوستانودروغتيا، کورنۍ اواولادونوپوښتنې سره کولې. بيابه ماناڅاپه وپوښت چې داښايسته ودانۍ څه ده....ډيرځلې مې دوست راته ويل چې دا بله ودانۍ دودونوسالون دى اودا... دى. خوښ شوم چې په کابل کې دومره ډيرودونه کيږې، ځکه ما فکرکاوه چې په دې ناورين حالت کې به دودونودرک نه وي ټول خلک به غمجن وې. ولې بياسمدستې پوښتنه راته پيداشوه چې په ښکلوودانيوکې دواده دجشن مراسم ډيرې پيسې غواړي. دابيچاره خلک داپيسې له کومه کوي. ټولو خوبه د جهادي جګړوپه وخت کې دقوماندانۍ دنده نه درلوده چې په اسانۍ يې ډيرې روپۍ پيداکړې وې. ټول خوبه دترياکواونورونشه اې

توکوتجارت نه کوي. که د رشوت اوبدواخيستلو بازارډېرتودشوی دی؟ دازماتلوسه وه چي د هرې پوښتني ځواب په همدغه ګړۍ کي ترلاسه کړم. په دې پوښتنواوګرویږونوکي دافشارو بازار ته دومره ژرراورسيدوچي په دې لاره پوه نه شوم. زماددوست دوه تنکي زلمي ځوانان دمرستي لپاره دسړک پرغاړه په انتظارکي وواوترستړی مه شي وروسته يې دکاکاپه ويلودلاس بکس او لوی بکس راڅخه واخيست. مالاداروپاسوچ کاوه، هڅه مي وکړه چي لږترلږه دلاس بکس خپله واخلم، مګرځوانانوته داعجيبه ښکاريده چي زمابکس په لاس یااوږه کې وي اودوی راسره ملګري وي. دغه زموږ دافغاني کلتورهغه برخه ده چي ډېرهیوادونه په ځانګړي ډول اروپايان يې بيخي نه پيژني. يوه ورځ مي ښه يادېږي چي کوم ډنمارکي ميره اومايني کډه کوله داچي زمادوستان وونودمرستي غوښتنه يې راڅخه وکړه که څه هم اروپايان په ټوليزډول دهيچاڅخه بې پيسو مرسته نه غواړي. ولې زموږ دښواړيکوپه وجه يې داغوښتنه وکړه. هغه داچي: دکډې دټولولواوانتقال په وخت کي يې يوځوان زوی راپيداشو. ماداسي ګومان وکړچي ښايي کوم ځای ته يې سفرکړی و. ولې هغه په ډېره بې پروايي راغی کوم څه يې مورته وويل اوپه بېړه يې دوتلوتلوسه درلوده. ماپوښتنه ورڅخه وکړه چي دمرستي وخت درسره نشته. ده وويل:زه نن کارنلرم ولې دوی کولاي شي چي دکډې کولوترانسپورتي موسيسي ته تليفون وکړي. هغه موسسه نفراووسايل ورته راليږي. دازمادنده نه ده. دلته يې پيل کوم اروېدلي مې و چي په هيوادکي دخلکوترمنځ پخوانۍ اړيکي بيخي شليدلي دي. هيڅوک پخوانۍ پيژندګلوۍ اودوستۍ ته ارزښت نه ورکوي. خبرې يوازې دپيسودي اوبس. مګردنيکه مرغه کيسه داسي نه وه په همدغه مازديګرزمايو پخوانی دوست دېپلوم انجنيرغلام محی الدين بهاوي راغی اوګيله يې وکړه چي بايد خبرمي ورکړی وای چي هوايي ډګرته داستقبال لپاره راغلی وای. په دغه مازديګر مي دهمدي دوست ځوان زوی راغی ، غوښتنه يې راڅخه وکړه چي يودرې کوټيزه کوربه راته خالي کړي ځکه زه ممکن ميلمانه ولرم که څه هم په دغه ګړۍ ماونه منل ولې وروسته مي دنوموړي دهغه کورڅخه کله نا کله ګټه اخيسته، داکورددده په شخصي ښکلي هوټل(شبی طلایی) کي و چي دودونودپاره يې جوړکړی واوتاسويې انځورونه ليدلای شی.

## دکابل په ښارکې ليدنې اوو‌زماسوچونه

سره ددې چي په هيوادکي دپيسوپيداکولوحرص ډيرزيات شويدی، مګرڅومره چي مالديښنه درلوده، هغومره زموږدخلکواصيل رواج ته زيان نه دی رسيدلی. په دوهمه اودريمه ورځ دکابل په ښارکې وګرځيدم، ډېرداسي څه مي تر سترګوشول چي حيرت به ورته يووړم. که اوسنۍ حالت دشوروي ديرغل نه مخکي وخت سره پرتله شي خوبيخي حالاتوډېر بدلون موندلی دی. اودروس داشغال دوخت سره خوبيا دامنيتي ځواکونو خوځښت پرتله کيدلای نه شی. په ځانګړي ډول دبهرنيو سرتيرود کاروان تيريدنه يوبشپړ ناورين و. ټول موټران بايدپه بيړه دسړک يوې څنډې ته دريدلي وای. دخلکودکيسوڅخه داسي پوه شوم چي په لومړي وخت کي چي خلک ددې دودسره اشنا نه وو نوډيرې ناوړې پيښې رامنځته شوې وې. هرډول بې ځايه خوځښت په دغه شيبه کي دژوندپه بيه تماميدلای شواي. په دې وخت کې موبايل تيلفون تږډيروخته هيڅ کارنه کوي. ددوی دکاروان دتيريدوپه وخت کي دخلکو په څيروکې د قهراوغضب سره ددارنښانې دورايه ښرګندې وي.




دشبی طلایی هوټل انځورونه

بله لویه ستونزه چې دپاملرنې وړه وه هغه دموټرانوبې سارې ګڼه ګوڼه وه. که څه هم نوي سړکونه جوړشوي وواوډیری یې هم نیم کاره پاته ووچې دبادپه وخت کې ددوړواوخاورولپاره ښه زمینه برابروله. داسړکونه په هیڅ وجه ددومره ډیرو موټرانودتګ اوراتګ لپاره بسنه نه کوله. په دویمه ورځ دغرمې د(۱۲) بجوپه شاوخواکې د افشاروڅخه دیودوست په ملګرتیادښارپرلوري وخوځیدم. دابن سینا روغتون دپله سره دموټرانودومره اوږده لیکه وه چې ماباورنه درلودچې په څو ساعتونودې ددې ګڼې ګوڼې څخه ووزم. پوره یوساعت موټران بندوو، د تودوخې درجه تر (۴۰) درجې لړنه وه. په موټرکې ایرکانډیشن هم نه ودنفس کښلولپاره یوازې او یوازې دزړواونوموټرانوڅخه راوتونکې لوګې وواوبس. په همدغه ګړۍ مې دوست وړاندیزراته وکړچې که غواړم دکابل ښاروګورم په راتلونکې کې به د موټر سایکل پواسطه سیل راباندې وکړي. زماځواب داوچې ته مې یوځل ددې ګڼې ګوڼې څخه په خیروباسه، بیابه وروسته پریکړه کوو. زړه مې داسې راته ویل چې بله ورځ به ښارته هیڅ نه راوزم. ولې داهم دستونزې دحل ښه لاره نه وه ځکه زه دخپل هیوادددلیدلواوکتلولپاره ورغلی وم اوترخپلې کورنی اوخلکو نازولی نه یم چې هغوی دلته دهمیش لپاره استوګنه کوي اوزه یې یوه میاشت نه شم زغملای. برسیره دډیروسړکانودکمبودڅخه یوه بله غټه ستونزه دحکومتي لوړپوړوچاروکوکورونواو دفترونوته تګ اوراتګ و. یوځل به لاربنده شوه اودموټرانو اوږدقطاربه جوړشو. که به پوښتنه وشوه، څرګنده به شوه چې یومشرددې لارې څخه تیریږي نوهر خوځیدونکی موجودبایددبشپړسکون په حال کې وای. داکړنه د ورځې موډوکه به خطره ورته موجوده وه اوکه نه، باید موټران یې درولي وای. یوه ورځ مې په زړه کې دامشهورمتل راوګرځید چې « مه کوه په ماچې وبه سي په تا»، څوکاله مخکې همدغه اوسني واکداران ووچې په ښاري بسونو، هوټلونو، لویومغازواونوروځایونو کې بمونه اېښودل. چې دهیواد بیګناه خلک، ماشومان اوښځې به یې په وینوولمبول. یوه ورځ په تیرې پیړې یانې په اتیایموکلونوکې په نوي ښارکې تیریدم چې یوه هیبتناکه چاودنه وشوه. زه دپیښې له ځایه ډیرلیرې نه وم چې په افغان کارت موسسه کې بمونه ځای پرځای شوې وواوپه چاودنه باندې یې په لسګونوبیګناه ښاریان اوهم د مغازې عادي کارکوونکي شهیدان شول، په دغه ډول په ښاری بسونو، ښوونځیو کې دغه اوسني واکدارانو، زلمیان، نجونې اوزده کوونکي مسموم اویا د بمونوپه چاودنه باندې دمنځه وړل. په هغه زمانه کې یې دوی دانقلاب ضداوپایي داشرارو خطاب ورته کاوه. نن ددوی پخواني اندیوالان چې یوځای ددوی سره دڅارګرو اداروپه مرسته دورانیولپاره روزل شوې دي پردوی هم په قهراوغصه دي اود جګړې نوی ډول چې دځان مرګوبریدونومیتود دی، استعمالوي. اوبیااوسني واکداران هغه په ډول ډول نومونویادوي. زمازړه پر بیچاره ملایانوډیرسوځي. ددوی له منځه هغوی چې دوخت ددولت په حاکمیت کې ژوند کاوه، مجبورووچې د مجاهدینوکړني ناسمې اوداسلام ددین سره په ټوپیرکې

وبولي. اوس بياجهاديان دي چې دطالبانوکړني داسلام ددين سره برابرې نه بولي. نواوس دعام ولس څخه ورکه ده چې دچاخبره ومني. پرکوم واکدارباوروکړي که يوې ډلي روسي فوځ هيوادته رابللي و، نوروبيابې شميره هيوادونه هيوادته دډيروموډرنووسلوسره را دننه کړل. ولې بېچاره ولس بايدځان دشرايطوسره عيارکړي.

## دکابل ښاردناپاکه چاپيريال سره دښاريانوستونزې

بله لويه ستونزه چې دکابل ښاريان ورسره لاس اوګريوان دي هغه په ښارکې چټلي ده. داخوبيخي درسته ده چې يوازې دولتي ادارې يانې ښاروالي نه شي کولای چې دښارپاکي اوصفايي وساتلای شي. دخلکوګډون په فعال ډول ډيراړين کاردی. داچې ولې خلک ګډون نه کوي داهم ځانته دلايل اوعوامل لري. ولې زه هغه څه چې په دولت پورې اړه لري ترنظرتيروم:

په ښارکې دپخواپه شان تشنابونه نشته، دلويوښکلوودانيوڅنګ ته دعامه خلکو سرلوځي تشنابونه شته چې دودانيوښکلا يې له منځه وړې ده. په ټول ښارکې د کثافاتودغورځولولپاره هيڅ ټاکلی ځای نشته.سړې اړدی چې اضافي موادپرسړک وغورځوي. ډيرداسي دلايل مې واوريدل چې دکثافاتولوښي خلک غلاکوي اوبيايې پلوري. پخواپه وزارتونوکې دتشنابووضعيت ډيرښه و ولې اوس دډيرومجللو وزارتو تشنابونه دومره چټل دي چې په ورتلويې دسړي زړه بديږي. په خپله يوه ليکنه کې مې دانځورونوسره مل په ويبپاڼه کې خپاره کړې دي.پوښتنه راته پيداشوه چې دا دومره پيسې چې دنړيوالولخوامرسته کيږي داچيرې لګيږي. بهرنيان هم په فساد بانديې ترافغانانوزيات روږدي دي. ځکه دوی هم داځايونه دسرپه سترګوويني. ګواکې دبهرنيوهيوادونوکارکوونکي نه داچې زموږدهيوادشتمني ته دچورلپاره ليځي رانغښتي بلکې هغه څه چې مرسته کوي هغه هم بيرته په نامشروع ډول خپل هيوادونوته ورسره وړي. زه چې سوچ ورته کوم داغوښينه ګوله عادي بهرنيان په يوازې توګه هضمولای نشي. حتماً به ډيرواکمن لوړپوړي چارواکي ورسره شريک وي. دادودپه افغاني چارواکوکې هم دغسي دی. لس کاله ډيره اوږده موده ده چې تر(۶۲) زيات هيوادونه زموږپه هيوادکې حضورلري ولې دهيوادپه پرمختګ کې دپام وړاود عادي خلکوپه ژوندکې کوم ځانګړې بدلونونه نه ليدل کيږي .

بله ستونزه چې زماپاملرنه يې په کابل کې ځانته واړوله ، داوه چې ، دکابل په ښار کې ډيرې لړې شنې ونې اوچمنونه ترسترګوکيږي. يووخت دکابل په ښارکې لوی پارکونه اودخيرخاني مينې په سيمه کې ډيرپراخ ډاګونه اوشنه چمنونه وو. همداډول دکابل په نوروسيمواودکابل دښارپه منځ کې شنې ونې وې ولې داهرڅه دتنظيمي جګړو په وخت کې دمنځه تللي دي . ترټولوبده داوه چې جنګي قوماندانانوشني سيمي وپلورلې اوپه ناقانونه ډول يې ودانی وربانديې جوړې کړې . په دې ډول يې هم د کابل ښاردناقانونه ودانيوپه مرکزبدل کړ. اوهم يې دشنوچمنواوونودشتون څخه بې برخي کړ.

دوستانوپه تفصيل اوحتی ليکلي توګه معلومات راکړل چې دکابل ډيرې سيمي څنګه دزورواکانوترمنځ ويشل شوې وې. په رښتياپخواني توپکي زورواکان اوياپه درشيو کې لوړپوړي ډيری چارواکي په چورکې سره شريک دي. دامې هم اوريدلي وو، چې دښځوجنبش ډيرپرمختللی دی پردې موضوع تبصره نه کوم ځکه په دې اړوند به زماپه کتاب کې په تفصيل ولولئ.

ډيرنوي څه يانې کانکريټي ديوالونه چې دځانمرګوبريدونودمخنيوي لپاره درول شوي وو، ګام پرګام ترسترګوکيدل . په ښارکې ډيرهغه ځايونه چې دولتي اوياپه بهرنيانو پورې يې اړه درلوده په ډيروکلکواوغټوکانکريټي پايواوياتختوباندې بندشوي وو. چې دښارښکلايي بيخي له منځه وړې وه. ولې

بایدووایم چې شخصي تعمیرونه، ښار ګوټي اوښکلې ودانۍ جوړې شوې وې . خودښارپه منځ کې دولس لپاره دحکومت لخواپراخه ګټورې پروژې مې ونه لیدې . ترټولولابده داوه چې په خیرخانه کې لوی چمنونه چې یو وخت موجودووهیڅ اثارېې اوس پاته نه وو. داشنه چمنونه هم د زورواکانوځپو وهلې وواودنمروپه ډول پیرودل شوې وو. دزرنګارتاریخي پارک هم دډموکراسۍ دلسیزې جوش نه درلوداوچمنونه یې مړاوي ښکاریدل. په یوه څنډه کې یې دطالبانوپه زمانه کې یولوی ښکلی مسجدابادشوی و. دښاروالۍ یومسول کیسه راته وکړه چې دامسجدپه حقیقت کې ددوومو‌خولپاره ابادشوی و، دیولوري د زرنګار پارک له منځه یوسي ولې اصلي موخه یې ترمسجدلاندې دیولوی سوپرمارکیټ جوړونه وه. نودمسجدجوړونې پلمه ددې کاردپاره یوه اسانه پلمه وه.

که نه ډیرنژدې دپل خشتي لوی تاریخي جومات ، دشادوشمشیره ، حاجي یعقوب د ځلورلارې مسجدونه اونوروشتون درلود . زمایودوست انجنیرچې دمجاهدینودواک په وخت کې ددغې پروژې مسول وداسې معلومات راکړل:





دحاجي یعقوب دمسجدانځور                                   په کابل کې دتیمورشاه مقبره

کله چې دتنظیمي واکمنۍ په زمانه کې ددې پروژې مسولیت ماته راکړل شو، لومړی مې دسوپرمارکیټ کارودراوه اوویراندیزمې وکړچې په لاندې پوړکې دې داسلامي او نوروعلمي کنفرانسونولپاره لوی سالون اواړوندې کوټې جوړې شي. ددې مسجد اصلي خاوندمړدی داچې اوس به څه شی جوړوي ، نه پوهیږم . دنوي ښارپارک چې دپسرلنیورستورانونوګنه ګونه به یې درلوده هیڅ مې ترسترګونه شوه، دپارک سینما اصلي بڼې هم ډیربدلون موندلی دی . دپارک سینماته ډیروخت ودریدم ودانۍ یې ډیره زړه او خرابه ښکاریده.
دتیمورشاه دمقبرې مخې ته یو شین چمن اوځلورلوروته دیوال جوړشوی دی. ما اجازه پیدانکړه چې دننه ورشم ځکه دمقبرې ددروازې دتړلووخت و.



دپارک سینما



دنوي ښاردپارک انځور

**دکابل ښاردعامه کتابتون لیدنه اوولسمشرته زماعرض پاڼه**

دزرنګارپارک اودهیواددولسمشراستوګنځي ته نژدې دکابل ښارعامه کتابتون دي. غوښتل مې چې کتابتون ته ورشم اودخپل کتاب په اړوندځه موادولولم اودامکان په صورت یې کاپي کړم. دښاغلی بهاوي په ملګرتیاکتابتون ته ورننوتم . لومړی په دوهم پوړکې دکتابتون دمدیرکوټې ته ورغلواودپخوانیوورځپاڼودلوستلوهیله مې وکړه مدیرصاحب په ډیره مهربانۍ اړوندې څانګې ته رهنمایي کړو. زمادوست وغوښتل چې تشناب ته ولاړشي . کله چې راووت دتشناب دتعفن په هکله یې راته کیسه وکړه نو زه هم ورغلم . چټلی په دومره کچه وه چې دبیان څخه یې عاجزیم. ددهلیزونوحالت هم په دغه تول وتله. وروسته دورځپاڼوڅانګې ته ورننوتلو. په پیل کې دورځپاڼودلوستلویوه کوټه چې حالت یې یوڅه ښه و، مخې ته راغله. دکوټې په وروسته برخه کې یودهلیزاوهلته کوټې ته ورته یوځای وچې یوسپین ږیری معزز سړی ورپه کښې ناست واوحیدري صاحب یې ورته ویل. ترسلام اوروغبړوروسته مې خپله غوښتنه ورته بیان کړه. نوموړي په ډیره مهربانۍ دورځپاڼویوکوچني دهلیز ته چې دده دکوټې اود لوست دکوټې په مینځ کې و، رهنمایي کړم . ماوپوښت چې کیدای شي ، اړین اسناد کاپي کړم ؟ ځواب ځکه منفي و چې په تأسف دکابل په عامه کتابتون کې دفوتوکاپۍ ماشین نه و. مادورځپاڼې دایستلوداجازي غوښتنه وکړه. د پرنسیپ اوقانون له مخې اجازه نشته. په هرصورت دهوکې په ډول یې سرراته وښوراوه. دوست ته مې وویل چې زه بله ورځ یوازې راځم . سبابیاراغلم اودځانه سره مې پریکړه وکړه چې مهم اسنادبه په کامره عکاسي کړم ، همداسې مې هم وکړل . چې اوس ډیراسناد لرم. ولې بیاهم هره ورځ به مې چې دورځپاڼود کلکسینو سره کاروکړ، اړوم چې جامې بدلې کړم اولاسونه ښوځلې په صابون ومینځم ځکه

چې دوړې دومره غوړې وې چې په لاسوپورې مښتې وې اوبيليدل يې اسانه چاره نه وه. حيدري صاحب هم په ډيرتودځاى کې ناست و، چې دکوټې ديخولواو يانور اړين وسايل يې په واک کې نه درلودل . که به يې اوبوته اړتياپيداشوه ، ځوځلې به يې بابا ته په لوړاوازږغ کاوه چې دده بيچاره حالت زه ډيرزوررولم. داسې معلومات هم راکړل شول چې نوموړى يوډيرښه ليکوال دى. په دننه کې مې ډيرعکسونه واخيستل ولې بله ستونزه داوه چې دبهرخخه يې دعکس اخيستلواجازه نه راکوله چې دعامه کتابتون دبهرڅخه عکاسي وکړم. په دليل يې ونه پوهيدم ولې داپريکړه دپهره دارپوليس په واک کې وه. داستونزه مې يودوست افسرراته حل کړه. داسې معلومات مې هم ترلاسه کړل چې دعامه کتابتون يوه برخه زورواکانوديوې ودانۍ دجوړولو لپاره نيولې ده.






دپيام وجدان ورځپاڼې يوه بيلګه

دعامه کتابتون انځور

دکتابتون دغه خواراوداندېښنې وړحالت زه وهڅولم چې دهيوادولسمشرته يوليک وليږم . داليک مې وکيښ اودولسمشريومشاورته مې په دې هيله چې ولسمشرته يې وړاندې کړي ، وليږه . چې دلته يې دلومړي ځل لپاره متن هيوادوالو ته وړاندې کوم :

نيټه: ۱۰/ ۰۸/ ۲۰۱۰

دابراهيم نعيمي معروضه

**ښاغلى جلالتماب حامدکرزى دافغانستان داسلامي جمهوريت ولس مشر!**

دروان کال دجولاى په مياشت کې مې وروسته تر(۲۲) کلونوګران هيوادافغانستان ته سفروکړ. دجولاى ټوله مياشت مې په خپل ګران هيوادکې ددوستانوسره تيره کړه. زماسفردرې موخې درلودې:

۱ ـ دخپل (۹۷) کلن پلارليدل

۲ ـ ددوستانواودهيواد ليدنه
۳ـ دافغانستان دښځودژوندپه هکله مې ديوځيرنيزکتاب ليکنه ترلاس لاندې ده چې دکتاب نهم څپرکى داوسنيوحالاتوپه اړونددى . نواړينه وه چې په دې اړونددښځو د ژوندپه تړاوپرمختګونه په خپلوسترګووړينم. اوهم دخپل وييپانې لپاره اړين مالومات ترلاسه کړم.

جلالتماب ولس مشرا! ستاسوترمشرى لاندې په تيرلسوکلونوکې په هيوادکې دليدلوړ بدلونونه رامنځته شوي دي. ځرګنده ده چې په رواونستونزمنوحالاتوکې چې ډيرې کورنى اوبهرنى ستونزې شتون لري ددې نه علاوه دډيرشمير هيوادونوپوځي حضور نورهم پيچلى حالت رامنځته کړى دى.
ماديوې مياشتې په موده کې په رڼوسترګواوخلاصوغوږونوډيرڅه وليدل اوواوريدل چې دخوښى اوخوابدى احساس يې له ځانه سره درلود. خپل دخاړپوځوښکلى ښار، خواشيني کړم ولې دمزارشريف په ليدومې خوښي زياته شوه چې ښه دى دهيواديوه بله سيمه جګړې ډيره ځپلې نه ده. زه نه غواړم چې پرمختګونه دپامه وغورځوم او يوازې په نيوکوپيل وکړم . ولې يوڅه چې ماته ډيرحيرانونکى و، غواړم په دغه اړونددوړانديزپه ډول تاسوجلالتماب ته عرض کړم:

داړينومعلوماتونودراټولولپاره مې په ډنمارک کې دځان سره پريکړه کړې وه  چې په کابل کې به عامه کتابتون ته ورځم. دخپل يودوست په ملګرتيادکابل عامه کتابتون ته دډيروهيلوسره ورننه شوم ولې په خواشينى بايدووايم چې عامه کتابتون يوې کنډوالې (ويرانې) ته ورته ځاى و. زماله بخته په همهغه ورځ تشنابونواوبه هم نه درلودې چې په بيان يې شرميږم . ولې بايدووايم چې نوم يې تشنابونه دي که نه دتعفن يوشرموونکى ځاى دى(که اوبه هم ولري). دکارکوونکوخوارحالت په ځانګړې ډول دورځپانودځانګې دمسول (حيدري) حالت چې يومعززسپين ږيرى دى ، زړه بوږونکى و. ماځوورځې ډيرساعتونه دورځپانوپه پلټولوتيرکړل باوروکړى اړوم چې تروزځنى پلټنې وروسته سمدستي جامې بدلې کړم ، ځکه هرڅه په خاورو کې پټ وو. دکارکوونکوګناه يې نه بولم ولې چې تردې تولوچپاونو وروسته عامه کتابتون ته ګردسره پاملرنه نه ده شوې . ګومان نه کوم چې کوم ريس يادوزير مرستيال به په دې ورستيولسوکلونوکې سروردننه کړى وي که نه ضرورربه يې د خپلې ښايستې دريشى دساتلو لپاره هم يوامرکړى واى. يودفوتوکاپى ماشين نشته چې داړتياپه وخت کې ګټه ترې واخيستل شي اونور...

زه ځکه تاسوجلالتماب ته په هيوادکې ترنوروډيرومهموپروژودعامه کتابتون په اړوندمعروضه وړاندې کوم چې :

۱ ـ دهیوادګړندی پرمختګ هله ممکن دی چې هیوادوال دکتاب، ورځپاڼو اونورو ورته رسنیودلوستلوپه کلتورروږدي شي .
۲ ـ دخلکودپوهې دکچې لوړیدل نه یوازې دهیوادپه پرمختګ کې رغنده اغیزه لري بلکې دقومونوترمنځ ژبني ، سیمه ایز ، مذهبي اونوردې ته ورته توپیرونه چې اوس کورني اوبهرني دښمنان ناوړه ګټه ورځخه پورته کوي په بدل کې به داتوپیرونه د هیوادد کلتوري غنا اوښه پرمختګ لپاره وکارول شي.
۳ ـ دلوستلواومطالعې کلتوردخلکوترمینځ دتحمل اوزغم رواج رامنځته کولای شي په دې مانا ، کیدای شي چې دهیوادوالوترمینځ نظریات توپیرولري ولې دهیوادد پرمختګ لپاره به یوازې دهیوادعالي ګټې پرتولونظریاتو واکمنې وي.
۴ ـ دیموکراسي یوازې هغه وخت دجوړیدواوودې امکان لري چې هیوادوال زده کړې اوعامه پوهه ولري ، دډالرواوټانکونوپه زوردډیموکراسۍ پلي کول ناممکنه چاره ده څکه دپخواني شوروي اتحادداشغال دوخت تجربه په لاس کې لرو.
۵ ـ دهیواددپلازمیني کتابتون لومړنی هغه دی چې تاریخي اوملي ارزښت لري اود بهرنیوسیلانیانولپاره هم په زړه پورې ځای کیدای شي .

دپورته لیکنې پربنست تاسوجلالتماب ته لاندې وړاندیزونه کوم :
ددې لپاره چې دهیوادتاریخ تاسودعلم پروره ولسمشرپه توګه په یادوساتي نوښه به داوي چې یوه ورځ ناڅاپي عامه کتابتون ته چې ستاسواستوګنځي ته نژدی پروت دی ، تشریف ورووړئ اودهیواددنامتومشرمیرویس نیکه ، چې هرافغان ته دمنلووړدی،په نامه باندې ونوموئ اودننې عصردغوښتنوسره سم یوکتابتون ورنه جوړکړئ چې د افغانانواو بهرنیانولپاره دپلازمینې یوتاریخي کتابتون شي اودغاصیبینودچپاول ځخه هم بچ کړل شي.

جلالتماب ولسمشر! داوه زماځانګړې معروضه چې ستاسوحضورته مې وړاندې کړه ولې بایدووایم ترځوچې زه ناامیده نه شم ، دامعروضه عامه مطبوعاتوته نه لیږم.
په درناوي
محمدابراهیم (نعیمي) داوسیدلوځای ډنمارک
بشپړه پته:


Ebrahim Nahimi
Rosenhøj 8A, 3.th121130
8260  Viby J Århus
Danmark
Telefon:004586292271   Mobilnr:004551211308

زمادوییپانی پته چی به څلوروژبوخپرونې لري(انګلیسي، ډنمارکي، دري اوپښتو)
nahimi.dk   www.nahimi.dk/pashto   or

E – mail: nahimi051@hotmail.com  Or : e.b51@hotmail.com

زه غواړم دېخوانیوورځپانوڅخه یوشعراوهم زما لیکنه چي وربانديٍ کړې مې ده، وړاندي کړم.

لیکونکی ابراهیم نعیمي، نیټه: ۲۱ / ۰۷ / ۲۰۱۰ زکال کابل ـ قرغه


روزگار
امکان حل معظله پوهنتون در دو هفته آینده تو
شاغلی پژواک بحیث رئیس اتحادیه استادان انتخاب شد
۷ نفر بحیث مجلس نمایندگان اتحادیه استادان انتخاب شدند


مونږ به نه یو !

دروزګاردهغه وخت بیلګه

شعرولولئ:
مونږبه نه یو !
وطن به ګل ګلزارشی، خوافسوس چی مونږبه نه یو
داخزان به هم بهارشی، خوافسوس چی مونږبه نه یو
داچی مینه ولولی کړی دوطن په دردوغم کښی
داشپه به شین سهارشی، خوافسوس چی مونږبه نه یو
ترقی اوتعالی، خوشحالی به واقعی وی
ورک به هله هم اغیارشی، خوافسوس چی مونږبه نه یو
داتاتوبی دارین به لوی جهان دعدالت کښی
پیش اهنګ ددی دیارشی، خوافسوس چی مونږبه نه یو
چی ملت یی یی خرڅ کړی دسیندوپه پوره غاړه
داخاین به خواروزارشی، خوافسوس چی مونږبه نه یو

ای پرهیواد مین شاعره! تیره ورځ مې په ناڅاپي ډول یوډیره پخوانۍ ورځپاڼه چې
تر(۴۰) کلوهم پخوانۍ وه ، ولوستله. ډیرکلونه پخواتاسودخپلوامیدونو، ارمانونواو
هیلوبیان داسې انځورکړې و، چې ګواکې دیوې مودې په تیریدوبه ګران هیواد
افغانستان یواباد ، سمسوراوودان هیواد وي . دلته به لوږه نه وي ، فقراونیستي، فساد
او رشوت ، چوراوچپاول اونور داسې دشرمه ډک ویجاړونکي حالات به پای ته
رسیږي. خوموږبه نه یو. نه پوهیږم چې ته به اوس ژوندی یې اوکه نه؟ که تا دخپلو
هیوادوالوسره یوځای دوروستیوڅه دپاسه (۳۰) کلونوکړاونه ګاللي وي ، نونه پوهیږم
چې ستادهیلوکاروان به اوس کوم لوري ته مخه کړې وي . لابه تراوسه ستاهیلې او
ارمانونه په ګران هیوادکې دپرمختګ ، دنړۍ دتمدن د کاروان سره یوځای خوځښت،
دبډاوفساد ورک کیدنه وي؟ لابه تراوسه هم خپل جګړه ځپلي هیوادته په خپل روح
کې هومره لوړې هیلې طوفاني کوې لکه ستاپه شعرکې چې انځورشوې دي. که به
دنورو هیوادوالوپه څیریوازې دوروروژنې، انسان وژنې او ویجاړیدوتم کیدل
غواړې؟ ایاداسې به نه وي چې خپلې دهیوادپالنې هیلې به دې یوازې په هیوادکې
دسولې په راتلورالندې کړې وي که به لااوس هم دهیواد لپاره لوړې انساني هیلې په
خپل رنځورزړه کې هڅوې؟
تادیرزیات کلونه مخکې دااندیښنه درلوده چې ملت موګواکې دسیندپه پورې غاړه
خرڅیږي . ای زماناآشناشاعره وروره ! که ته اوس ژوندی یې ، موږخوڅوځلې
دډېرو، کانیواوهرڅه شتوسره پرپردوخرڅ شو. اوهمداګړۍ چې په بدن کې مویومثقال
غوښه پاته نه ده ، بیاهم په بازارونوکې دپیریدلولپاره ایښودل شوي یو. نوته به وایې
چې دافغان ولس دوجودیومثقال غوښه هم پاته نه ده نوڅه خرڅیږي؟
زماګرانه شاعره ! زموږخوپه ژوندون هډوکي هم پلورل شوي دي. ستاپوښتنه پرځای
ده. زموږهډوکي لاڅه کوې بلکې دغازیانوتورې لاهم پردوته په سوغاتونوکې
ورکړل شوې . ځکه دداسې سوغاتوورړوو، چې په هیوادکې یې نژدې دعلم ډیوه مړه
کړه اوددوی په مرسته موښارونه دچنګیزپه ډول وسوځول شول. اوس چې زه سوچ
کوم ، زموږدویاړلونیکونودهډونودخرڅولوواررارسیدلی دی . بل څه خوزه په دې
نړیدلي هیوادکې نه وینم ، دافغان میرانه اوددې هیواداصیل کلتور دوروستیو ریښو
کښلوواردی. زموږدهیوادپتمنې پیغلې خویې پرعربواوپنجابیانو وپلورلې، ولې اوس
په سپینه ورځ نه یوازې زموږماشومې نجونې اوهلکان دجنسي تیري ښکارکیږي ،
بلکې ډیرشواهدشته چې پربوډاګانوهم دبرچوپه زورجنسي تیری کیږي . په دې کې
نوموخه څه ده؟ داموخه څرګنده ده. ځکه داځل غواړي افغاني غیرت دکلمې په مفهوم
دستې نه وباسي . پرهیواد موکلونه کیږي چې د اورونوبارانونه دي ستادهیلو بهارتر
اوسه نشته . حتی هغه خزان چې ته ورنه ګیله لرې ، هم نشته. پرموږتورماښامونه

راچاپیردي ، بلاګاني دي ، تورې تیارې دي. کاشکې هغه ستاګیله من خزان هم زموږ دزخمي بچوپه نصیب کې واى . مګرنه ، اى پرهیوادمین شاعره!.



دپغمان ددوی لاری سیمه



دکابل نوی ښار

نوردي دهیوادپالني امیدونه په رنځونونه بدلوم که ژوندی یي نوراته ووایه چې اوس به دخپل هیوادلپاره په خپلوخوږ.واو هیوادپالني تودوولولو، تودوبیتونوکې څه راته ووایې ؟ اوددې هیوادلپاره دې هیله څه ده؟ راته ووایه چې ددې ټپونودعلاج لپاره کوم طبیب پیژني اوکه یوازې په دوعاګانواوزاریو تربمونولاندي کښینو؟ ځوانان مودځان وژونکو واسکښونو اودتل لپاره دپردیودهیلو قرباني شي که څنګه؟
زه چې سوچ کوم زموږ.هېونه لاڅه بلکې دبچوهېونه به موهم په دې هیله خاورې شي ، هغه خزان چې تاګیله ورنه درلوده ، یوواربیاراشي.

زماناآشناشاعره! ستادهیوادپالني هیلودپوره کیدوپه دوعا به خپله لیکنه پای ته ورسوم په درناوي.

**دافغانستان دښځودچارودوزارت اود نورواړوندوچارواکوسره لیدنه**
دسفرپه درشل کې ځوځله دښځوچاروو زارت ته ولاړم چې ډیرومهربانوښځواوهم مهربانه نارینه ووپه کې کارکاوه. په ځانګړي ډول دښځوچاروو زارت د مرستیالې اغلې مژګان مصطفی ډیره مننډوی یم چې دهمدې وزارت دفعالیتونوپه اړوندیې ډیراوپه زړه پورې معلومات په واک کې راکړل. اوزمادکتاب لپاره یې یوه اوږده ویډیویي مرکه راسره وکړه چې تاسوبه یې په راتلونکی کتاب کی په لیکلې بڼه

ولولئ.





دښځوچاروزارت مرستیاله مژگان مصطفی        دروبناجلالي انځور

دیوې ځوانې سپورت میني اغلې روبناجلالي سره مې چې دولسي جرګې لپاره یې ځان نومولی و. دنوموړئ په دفترکې ویډیویي مرکه وکړه. اوپه ځانګړي ډول مو ډیربحث دښځواونجونو بدنې روزنې یانې سپورت په اړوندوګړ. دنوموړې مرکه ډیره په زړه پورې وه چې تاسویې په راتلونکي کتاب کې په تفصیل سره لوستلای شي .





دالمپیادکمیټې دمشرسره انځور

دمشعل پوهنتون دغونډې جریان

دالمپیک دکمیټې دعمومي مشرښاغلی ظاهراغبرسره مې دخپل دوست دیپلوم انجنیرغلام محي الدین بهاوي په ملګرتیا ولیدل . بایدووایم چې دالمپیا داتل نثاراحمد بهاوي په مرسته د نوموړي مشردلیدلوموقع پلاس راغلې وه. داهم دهیرولونه ده چې نثاراحمدبهاوي زمادګران دوست غلام محي الدین بهاوي کشرزوی اودالمپیادلوبواتل دی . کله چې ښکلې دفترته چې دسپورت اتلانوپه انځورنواومډالونوښکلی شوی و، ورننوتو. دښاغلي مشرله لوري په پوره مهربانۍ استقبال شولو. په رښتیادنوموړي

دفتردومره ښکلي اوپه زړه پوري و چې دښاغلي مشردلوړې سليقې بيان يې کاوه. داسې دفتريوازې ماپه فلمونوکې ليدلی و. بايدداسې تعبيرنه شي چې ګواکې ډير لګښت ورباندې شوی و. پراخه سالون په سپورتي انځورونو، مډالونو، ژوندليکونو باندې ښکلی شوی و، چې دافغاني سپورتي اتلانودهڅو ښکارندوی ګڼل کيدای شوای. وروسته مې په ويډويي مرکه پيل وکړ. په ټوليزډول دسپورتي فعاليتونواوپه ځانګړې ډول دنجونودرول اوګډون په اړونداوږدې اوپه زړه پوري خبري وشوي. وروسته مودالمپيک دکميټې ټولې برخې وکتلې . په رښتياهم دهيوادپالنې په لوړه روحيه کارورباندې روان و. ترټولو ماته په دې کميټه کې دتشنابونوکتل مهم و چې په هيڅ ډول د وزارتونواوياعامه کتابتون دتشنابونوسره دپرتلې وړنه وو. دمعيوبو ماشومانولپاره د سپورتي امکاناتو انګړمې وکوت اووروسته مې دبهرنيورضاکارو همکارانو دفتروکوت. په زړه پورې داوه چې همدغه بهرنيوځوانونجونودافغاني دود سره سم پوړني پرسرکړي وواوپه خپلودندولګيا وې. تاسو کولای شئ چې يوه برخه انځورونه وګورئ.




.

په انځورکی يوه المانی نجلی وينی                    غازی ستديوم

بشپړه مرکه به په کتاب کی لولو. زموږخبرو، مرکې اوګرځيدنې څه دپاسه دوه نيم ساعته وخت ونيوی ددی ليکنې له لارې دزړه له کومي مننه ورنه کوم.

**دنثاراحمدبهاوی سره مرکه:**

بله مهمه مرکه مي دالمپيادلوبوداتل سره چي نثاراحمدبهاوی نوميږی، وکړه. مرکه ځکه په زړه پوری ده چی دجګړه ځپلي هيوادځوانان بياهم دټولوکړاونواوستونزو سره سره نړيوالوته خپل استعدادونه په نمايش ايږدي. نثاراحمدبهاوی دخپل سفرپه ټولو اړخونووږغيدې اوپه دی ډول يی معلومات راکړی. داهم دنثاراحموبهاوی د مرکي زيږه ټکې:

« زمانوم نثاراحمدبهاوی دی، (۲۵) کاله عمرلرم اودافغانستان دتکواندودملي ټیم غړي یم.

 

دنثاراحمداومدالونوانځورونه

زه ډیرکوچنی وم چې دلغتي وهلوسره مې مینه درلوده ولي دومره پوهیدم چې لغته دتکواندوپه لوبه کې ښه رول لري. زمادکورنژدې دتکواندویوشخصی کلپ د(انجمن تکواندوصلح روی) په نوم و. ماهم په دغه کلپ کې ځان شامل کړ، چې عمر مې (۱۲) کاله و. ښوونکي مې ضیاالحق بخشي اونوراحمددلسوزنومیدل. زه ددواړو استادانوڅخه ډیرخوښ یم ځکه زماسره یې داولادپه ډول کړنه کوله. یوکال وروسته مې په یوه سیالۍ کې ګډون وکړ ، زماحریف دڅوکالواتل و، هغه ته مې ماتې ورکړه اودطلامدال مې وګټه. البته داسیالي په کابل کې وه ، زماښه یادیږي چې زماوزن (۳۲) کیلو ګرامه و. ددغه مډال نه وروسته دکورنۍ اودکابل دښاردتکواندود کلپونو پاملرنه زما لوري ته راواوښته . په ټولیزډول مې دهیوادپه دننه کې تر (۱۵۰) ډیرې سیالۍ ترسره کړې دي .
څه موده په روسیه کې وم اودلومړي ځل لپاره مې په(۲۰۰۲زکال) کې دروسیې په سرتاسري سیالیوکې ګډون وکړ. اودنقرې مډال مې ترلاسه کړ. کله چې افغانستان ته راغلم په (۲۰۰۳زکال) مې دملي ټیم غړیتوب ترلاسه کړ. په (۲۰۰۴زکال)کال کې مې د لومړي ځل لپاره په رسمي ډول په بهرنیوسیالیوکې ګډون وکړ. داسیالۍ داتو (۸) هیوادونوترمنځ په پاکستان کې ترسره شوې . مادبرونزومډال ترلاسه کړ.
په (۲۰۰۵زکال) کال کې مې د(۵۷) اسلامي هیوادونوپه سیالیوکې ګډون وکړاود برونزو مډال مې ترلاسه کړ.
په (۲۰۰۶زکال) کې مې دجنوبي اسیاپه سیالیوکې چې اته(۸) هیوادونوګډون درلود، برخه واخیسته. سیالۍ دسریلانکاپه پلازمینه کولالمپورکې جوړې شوې . په دې سیالیوکې مې دسروزرو مډال په برخه شو.

په (۲۰۰۶زکال) کې دهندوستان دهیواددلکنهوپه ښارکې د(۷) هیوادونوترمنځ دښه نیت سیالۍ ترسره شوې اوپه دې سیالیوکې مې بیاهم د سروزرومډال لاسته راوړ.
په (۲۰۰۷زکال) کې مې دالمپیک په نړیوالولوبوکې چې د چین هیوادپه پلازمینه بیجینګ کې جوړې شوې او (۱۸۵) هیوادونوګډون ورپکې کړی وو، برخه واخیسته چې دسپینوزرو مډال مې تر لاسه کړ. داهغه سیالي وه چې زمادژونددښواونه هیریدونکوخاطروڅخه ګڼل کیږي. په دې سیالیوکې مې شپږوډیروپیاوړوحریفانوته چې دعربي هیوادونو، روسیې اوامریکالوبغاړي وو، ماته ورکړه. په دغه لوبه کې مې دایران لوبغاړی چې شپږځلې یې دالمپیاتلوالي درلوده ، مات کړ. په دې لوبوکې افغانستان ترجګړې وروسته بیاښه وځلید . دنړیوالورسنیوپام یې جلب کړ. څنګه کیدای شي چې دافغانستان په څیرهیوادچې کلونه په جګړوکې ښکیل دی ، بیاهم په دې وتوانید چې په نړیوالولوبوکې یې دسپینوزرو مډال ترلاسه کړ. دلوبوپه لومړۍ ورځ دهیوادولسمشر ښاغلي حامدکرزي اودبهرنیوچاروزیرښاغلي سپنتاهم ګډون کړی وو . زه دهیواددولسمشراونورومشرانولخواتشویق اوونازول شوم. خلکوهم ډیر استقبال کړم.
په (۲۰۰۹زکال) کې داسیایي هیوادونوپه رزمي سیالیوکې ګډون وکړ، چې په تایلینډ کې جوړې شوې وې. په دې سیالیوکې مې هم دسروزرو مډال وګاټه.
بایدیادونه وکړم چې دلوبوپه پیل کې مې څوځلې سیالۍ ونه ګټلې . هرځل به چې کورته راغلم ، ډیربه مایوسه وم. پوهیدم چې کورنۍ مې هم مایوسه کیده . ولې زه به یې سره ددې هم تشویقولم . په ځانګړي ډول مې پلارډیره پاملرنه راته کوله. دا زمادژوند ستونزمنه دوره وه اوخرابې خاطرې مې دي . د نیکه مرغه په (۲۰۰۵زکال) کې یو کوریایي استادافغانستان ته راغلی و. زماهڅودنومړي استاد توجه جلب کړه. نومړي استادزمادتکواندوپه حالت کې ډیرګټوربدلون راوست. دا بدلون هم دنویو تخنیکونو زده کړه اودقوي مورال ښوونه وه. په لومړي کال کې د ژبې دنه پوهیدوپه خاطرځینې ستونزې وې ، اوڅوسیالۍ مې ونه ګټلې ، ولې استاد همیشه راته په ټینګه ویل چې مورال بایدلوړوساتم ، خامخا به سیالي وګټم.

## ددوماشومونجونوازموینه

**زمابله په زړه** پورې خاطره داده چې ښاغلي شاولي بهاوي دخپلواولادونودتعلیمي سويې په اړوندمعلومات راکړل . دده په اولادونوکې دوو(۲) وړوماشومانوزماتوجه جلب کړه. دماشومانودپلارسره مې داسې قرارکښیښود ، چې زه به پخپله پوښتنې

جوړې کړم اودموروپلاردلاس ونهنې پرته به يې ازموينه اخلم . دوالدينولخوا دا قرارومنل شواودليدلوورڅ مووټاکله. ماپوښتنې جوړي اوازموينه موپيل کړه.





دماشومانوانځورونه

**دازمويني جريان:**

دازموينې لپاره تخته اواړوندوسايل برابرشول اوويډيويي کامره موفعاله کړه چې ټول جريان په مستندډول عکاسي شي.

١ – وړه ماشومه چې څلورنيم کلنه وه ، ازموينه يې پيل شوه. دساده اعدادوڅخه ازموينه پيل شوه وروسته په ترتيب جمع ، منفي ، ضرب ، تقسيم ، کسر، کسربا لکسراونور...

٢ – دابله ماشومه پنځه نيم کلنه وه اوځانګړی استعدادیي درلود. برسيره پردې چې درياضي پيچلې پوښتنې په درست ډول ځوابوالای شوې ، داسې ښکاريده لکه يوه لايقه ښوونکې چې په ټولګي کې تدريس کوي.

٣ – نوراولادونه يې هم دځانګړواستعدادوخاوندان وو.

## دکابل دښاردښځینه زندان کتنه



زرافشان دکابل دښځینه زندان سرپرسته



دکابل ښځینه زندان دقوماندان انځور

**بله په زړه پورې اوزړه** بوږنوونکې لیدنه دښځودزندان کتنه وه چې دکابل په بادام باغ کې یې موقعیت درلود. دزندان دلیدلولپاره مې دعدلیې وزارت دمسلکي مرستیال څخه لیکلې اجازه ترلاسه کړه اووروسته مې دالیکلې اجازه دخپل دوست نجیب الله ابراهیم خیل په ملګرتیادمحابسوعمومي ریاست ته یوړه. دمحابسودعمومي ریاست دمرستیال لخواپه ورین تندي هرکلی راته وویل شو. زماغوښتلیک یې دبادام باغ ښځینه زندان ته محول کړ. بله ورځ یوازې دهغه زندان انګړته وردننه شوم . دمروجو تلاښیو وروسته دزندان دامردفترته ورغلم چې تاسویې یاد ګاري انځور لیدلای شئ . وروسته زماپه غوښتنه دښځینه زندان دننه ته پریښودل شوم چې دزندان دښځینه مشرې لخوا چې **زرافشان** نومیده ، هرکلی راته وویل شو. دزندان ټولې برخې مې په ازادډول وکتلې اوانځورونه مې ورنه واخیستل . دزندان دمشرې اویوشمیرښځینه زندانیانو سره مې ویډیویي مرکې وکړې .

## دپغمان اوقرغې لیدنه

دخپلودوستانوپه **ملګرتیادپغمان** ښکلې درې ته ولاړم ، په زړه پورې لیدنه ځکه وه چې زمادهلمندګران دوست شاه محمودحسرت زمادلیدنې لپاره راغلی و. په پغمان کې دښکلې درې په لیدلوکې راسره ملګري وکړه. دیولوري مودپغمان دښکلاخوند اخیست اودبل لوري مودتیرووختوخوږې اوترخې خاطرې راپه زړه کولې. شکرمو وویست چې ددې ټولوستونزوسره سره بیاهم په ژوندسره وینو. طبعي ده چې د خپلوهغویارانوروح ته مودوعاکوله چې په دې موده کې زموږڅخه بیل اوداجل داعیې ته یې لبیک ویلای دی . په پغمان کې مودهیواددځوان اتل پاچااوداستقلال ګټونکي غازی امان الله خان دکارنامو بیارغول شوی شهکار(طاق ظفر) ولیداودهرې

برخي انځورونه مو واخيستل.




د طاق ظفر انځور                                        د پغمان پارک

وروسته دپغمان ښکلي پارک ته ورغلومګردخواشينی ځای داو چي دپخواپه څير ټولي شني ونې ، ګلونه اونورڅه په جګړوکي له منځه تللي وو. ولي نوی جوړشوی پارک ښکلی ښکاريده اودګلونوباغچويي ښکلارامنځته کړې وه. دپارک په مينځ کي مي دهمغه ځای دڅوتنواوسيدونکوسره خبرې وکړې چي په ډيره خواشينی يې د دپغمان پرخلکواودغه ښکلو پارکونوباندې دشورای نظاراوجمعيت اسلامي دجګړه مارووحشتونه راته بيان کړل. داسې يې راته وويل! « برادرمی فهمی تمام چاراطراف را که تومشاهده ميکنی، درخت بود، ګل بودوچمن سرسبزبودولی توفګنداران شورای نظارهمه ای سرسبزی هارانابودکردند».




داوسيدونکوانځورونه                    دپغمان په ښکلي دره کي دحضرت صبغت الله مجددي کور

**دپغمان** ددرې په ښکلوبرخوکي دجهادي قوماندانانوښکلي ودانۍ دليدووړوي ځکه دوی په افغانستان کي په وژنوډيرستړي شوي دي نوځکه داستراحت لپاره دهيوادپه ښکلودرو کي استراحت ځايونوته اړتيالري اوفکرکوي چي ددغوقوماندانانوبشپړحق

هم دی.
**دقرغې دښکلي بندليد نه** هم په زړه پورې وه. دقرغې بنددمجاهدينوديولوی قوماندان **ملاعزت** لخوادډيروکلونولپاره په اجاره اخيستل شوی دی . دبندچاپيرپال ته دننوتوله درکه دهرموټرپرسرشل (۲۰) افغانۍ اخلي . په دننه کې يې توريستې کوډلې جوړې کړې دي چې ديوې کوډلې دشپې کرايه يې سل(۱۰۰) ډالره اويالله دې هم اوچته ده. نومووړی ډيرعوايد پلاس راوړي ولې خواشينونکې داوه چې ددغومره ښکلي ځای دننه سړک په دومره کچه خراب و چې دموټروتګ اوراتګ ته يې لويه ستونزه جوړه کړې وه. داسې راته ښکاري چې په افغانستان کې دولت ، شخصي پانګه اچوونکي په ټوليزډول يوازې دپيسوپه ټولولو لګياه دي . دهيوادراتلونکې اويا بيارغونې ته يې پام نه وراوړي . ابادي نه کوي ولې پرطبعي ښکلاپيسي ګټي . دا چې دابنکلي ځايونه به په راتلونکې کې څه حالت ولري ، دوی يې خپله چاره اومسوليت نه ګڼي . په قرغه کې دملاعزت په ګډون ، يوشمير دولتي






دقرغې دعمومي دروازې اوبندانځورونه

لوړپوړوچاروا‌کواوجهادي قوماندانانوښکلې بنګلې ابادې کړې دي.

**دکابل ښارداوسیدونکوعامې اواړینې ستونزې:**

دکابل ښارنفوس په سرګیچ کوونکي ډول زیات شویدی، اټکل کیږي چې تر ځلورو میلیونو زیات وګړي په کابل کې استوګنه کوي. دموټروګڼې ګوڼي کیسه مې دخپلې لیکنې په لړکې یاده کړه. دښاردسړکونودوړو، خاورو، دموټرونو ددودونواو نورو چټلیوپه اړوندمې یادونه کړې ده. بایدووایم چې دکابل ښارپه ټولیزډول دومره چټل دی چې بیان یې راته ګران ښکاري . څه موده مخکې مې دککړچاپیریال ترسرلیک لاندې یوه اوږده لیکنه وکړه. اوس غواړم ځینوټکوته ستاسوپام راوړوم:

- په ښارکې ، دکابل سیندپرشاوخواترپخوازیاته ګڼه ګوڼه ده. اړخلک دخپلولاسي کراچیو پواسطه سزیجات، میوې اونورداړتیاوړتوکي پلوري . دپخواڅخه هم دغه سیمه ددې چارې لپاره کارول کیده. خواوس ګڼه ګوڼه ډیره زیاته شویده. دسیندمینځ دومره چټل دي چې په لیدلوباندې انسان ته ډاراوزړه بدې پیداکیږي . تاسویې په



انځورونوکې



دکابل سیندانځور

دکابل دسیندپرغاړه دوکانونه

لیدلای شئ.

دتشنابونونه موجودیت بله جدي اودپام وړستونزه ده چې دکابل ښاریان ورسره

مخامخ دي. ددې چارې دحل کيلي دولس سره نه ده. دتشنابونوجوړول د کابل ښاروالۍ اوپه ټوله کې د چارواکودنده ده. ولې کيدای شي چې لوی هټيوال په دې اړوندمرسته وکړي. دميلونونوپه ارزښت يوه ښکلې ودانۍ جوړوي نوکيدای شي څنګ ته يې دعامه ګټې اخيستنې لپاره ځوعصري تشنابونه هم جوړکړي. دابه ومنوچې په ساتنه کې ددولت اوخلکوتوجه لازمي ده. داچې په ښارکې ټول شنه چمنونه دزور واکانولخواغصب شوي دي ، دکابل چاپيريال يې نورهم ککړ او دانديښنې وړګرزولای دی. غواړم دموضوع په شاليد لږ وږ.غږېږم :



په يوه وزارتخانه کې دتشنابونوانځورونه

په افغانستان کې په ځانګړې ډول د۱۳۵۸ ليږ.ديزلمريزکال دمرغومې دشپږ.مې نيټې څخه پيل چې ترهمدغه ګړی په زوردوام لری . دپردیپالنې يوټينګ کلتوراودود رامنځته شوی دی چې دې دود دکورنيوچاروپه وزارت کې هم عملي بڼه خپله کړې ده. دبيلګې په توګه دپخواني شوروي اتحادتريرغل وروسته هروخت به چې دهيواد مشرانو، ببرک کارمل او نجيب الله شوروي اتحادته سفرونه کول دهغوی مشرانوته به يې ډول ډول افغاني مډالونه ورکول چې کله به ددوستۍ مدال اونورهم وو. دمجاهدينودواک په وخت کې ولسمشرربانې دوزيراکبرخان تاريخي تفنګچه دپاکستان واکدارته وبخښله. اوس چې دنړۍ دنورولويوهيوادونوبهرنيان راغلي دي په مختلفو وختونوکې اوپه ځانګړي ډول چې دنده يې پای ته ورسيږ.ی دهيوادوياړلې مدالونه ورکول کيږ.ي. ولې دا معلومه نه ده چې دامډالونه دکومې ښې دندې په وجه ، دډيرو ژنواويا... په خاطر ورکول کيږي ، که څنګه؟ لنډه به داووايم چې ددې کارلپاره تول اوترازونشته.

دهيوادپه دننه کې هم له هغه وخت نه په خپلومنځوکې داډول مډالونه سره تبادله کيدل. ولې چې هغه نظام به ونړيد بيادې مډالونوهيڅ ملي اعتبارنه لاره.

اوس نوخپلې اصلي موضوع ته راګرځم. ځوموده مخکې دافغانستان چاپيريال

عمومی مشر(مصطفی ظاهر) ته د نوموړي دښوخدمتونوپه خاطرمډال ورکړ. اوس نوتاسوسوچ وکړئ چې دهیوادد ککړچاپیریال اوپه ځانګړي ډول په کابل کې کوم پرمختګ شوی دی. زمادانځورونواولیدونوڅخه چې ډیروخت نه تیریږي، ځواب یې دادی: هیڅ ځانګړی بدلون نه ترسترګوکیږي(هغه اش اوهغه کاسه ده).

د۲۰۱۱زکال دمارچ دمیاشتې په (۱۶) مه نیټه داریاناتلویزیون څخه په خپله مصطفی ظاهردکابل ښاردککړچاپیریال په اړوندخبرې کولې اوپه خپله خوله یې وویل: په دقیق ډول نه شم ویلای ولې دراپوررونوله مخې دکابل ښارترمځکې لاندې اوبه (۶۸) سلنه چټلې اودچښلووړنه دي. که حالات دغه ډول دوام وکړي په راتلونکو نژدې کلونوکې به موږدکابل څخه کډوال شو. چې حالات دومره داندیښنې وړوي نوکه ټول مسولیت دده نه وي ، دمسول ریس په توګه خوبه لږترلږه دمډال اخیستلو وړتیاهم ونه لري.

خودپخواپه توګه یوه ورځ مډالونه اودتحسین پاڼې ورکول کیږې ولې بله ورځ دبې کفایته په نامه له دندې ګوښه کیږي.

**دسالنګ په دره کې ددوستانوسره میله**



په جبل السرج کې دامیرحبیب الله مانۍ



دچاریکارښار

دسفرپه جریان کې دخپلونژدې دوستانوسره دسالنګ غرنۍ درې ته دمیلې لپاره ولاړم. په میله کې ډیرخواږه یاران ، پروفیسورالحاج ډاکترکبیر، شاولي بهاوي، غلام محي الدین بهاوي، منصوربهاوي، نجیب الله ابراهیم خیل اودهلمندد یارانوڅخه محمدلعل کارګرراسره ملګري وو. په یوه ښکلې غرنۍ دره کې موځای ونیو، ټوله ورځ مودطبعیت په ښکلا کې په پوره خوښۍ تیره کړه. ماله ډیره وخته د افغانستان دتوتودخوړلوارمان درلود. په ماشومتوب کې مې دتوتانوپروخت هرسهارتوت خوړل ځکه توت په هلمندکې پریمانه دي. ددوستانوڅخه مې هیله وکړه چې زه توت خورم

خودوی منع کولم چې ناروغه به شم. ماهوډوکړچې هر څه پيښيږي ، توت به خورم دوست مې چې ډاکټرو، په باوريې راته وويل ، په ارام زړه يې وخوره . دسړک د غاړې هټيوال څخه موتوت رانيول . دسالنګ په پاکواوبومو پريولل اوپه پوره اشتها مې وخوړل . بايدووايم چې ناروغه نه شوم. دلارې په اوږدوکې مې ډيرانځورونه واخيستل چې يوشميريې تاسوليدلای شئ . داميرحبيب الله خان دتاريخي ودانۍ انځور دليدووړدی. دچاريکاردبازارپه منځ کې هم څو شيبې تم شووچې دګڼې ګوڼې انځورونه ليدلای شئ.





دسالنګ دميلي انځورونه

**غواړم دې ځانګړې موضوع ته دځيل سفرپه جريان کې اشاره وکړم:**
**سالنګ اوهم دمزارشريف په سفرکې مې يوې موضوع ډيره پاملرنه جلب کړه:**
**« دلارې په اوږدواوهم دمزارشريف ښاراودفترونوکې داحمدشامسعودانځورونه دافغانستان داوسني ولسمشرحامدکرزي دانځورونوسره څنګ په څنګ ځوړندوو.**

**غواړم داموضوع يوڅه ژوره وڅيړم:**
**- ولمشرحامدکرزی هرڅوک اوهرډول چې دی . اوس دهيوادډولسمشرپه توګه ټاکل شوی دی چې حکومت يې دنړۍ ټول هيوادونه په رسميت پيژني. نوکه يې عکس ځوړندوي بيله ګوت نيوني دنوموړي دارسمي اوقانوني حق دی.**
**- په هيواد کې ډيرداسې قوماندانان وواوشته چې دقوماندان مسعود په پرتله يې دبهرنيانوسره داړيکوسابقه نه خودومره اوږده ده او نه هم دومره برجسته ولې دحيرت وړده چې داکومه ديپلوماسې اودودده چې د مسعود انځورداوسني ولسمشر دانځوره سره يوځای دهغه پرڅنګ ځوړندوي. يوه ورځ مې داريانا په تلويزيون کې دولسمشردلومړی مرستيال مارشال فهيم په دفتر کې عينی ننداره وليده. ددې څخه داسې پوښتنې رازيږي:**

الف : ايااحمدشاه مسعوددهغوزرنګيوپه وجه داامتيازمونډلای دی چې دجګړې په تودوورځوکې په پټه دشورويانوسره ديوې لورې اودغربيانوسره(په ځانګړی ډول دفرانسويانو) دبل لوري پټې اړيکې درلودې. دملل متحد دپروګرام په ناکامی کې لويه ونډه درلوده. اوبل امتيازکيدای شي داوي چې دخپلوپخوانيوانډيوالانو، ګلبدين حکمتيار، عبدالرسول سياف ، جنرال دوستم ، مزاري ،محقق اوخليلي سره په ګډه کابل وران کړ. دجهادپه دوران کې يې چې څومره وژنې کړې دي هغه به ژورنه څيرم. خوبايدپه همدې ځای کې دخپل ټولګيوال انجنيرتوريالي اودخپل نژدي دوست انجنيربازمحمدديادونه وکړم . په ۱۹۸۳ز کال کې مود کانواوصنايعووزارت په ګډه غونډه کې يوځای ګډون وکړ. خدای بخښلی انجنير توريالی مې دپوهنتون له فراغت وروسته ليدلای نه و ، نوځکه مودځوانۍ او دپوهنتون دوخت کيسې ډيرې وکړې. مايه ټينګه ورته وويل چې دغونډې ترختم وروسته بايدپه قطارکې ولاړنه شي ، ځکه نوموړي دقطاريادونه وکړه. څو ورځې وروسته خبرشوم، چې د چاريکارد سيمې په شاوخواکې د دوی پرقطار بريدشوی و. دوی دواړه داحمدشاه مسعود سره زنداني شول. مرحوم ديپلوم انجينيرغلام محمدرحيمي (دهغه وخت دکانواو صنايعودوزارت مرستيال) ډيره هڅه وکړه چې دوی راخلاص کړي ولې بريالی نه شو. په پای کې دواړه ښکلي ځوانان اود هيوادتکړه انجينيران داحمدشاه مسعودپه ناپاکه لاسونو ووژل شول .
انالله وانااليه راجعون. ددوی اروا دې ښادې وي.
ب : دنوموړي ترجنايتونوکه تيرشودديپلوماتيکونورمونوله مخې هم داسې نه وي چې دهيواددولسمشرسره په موازي ډول ديوې ولسوالۍ دجهادي قوماندان انځور ځوړند شي.
هرڅه روښانه دي هغه داچې شمالي ټلواله دهيوادپه واکمنوکړيوکې پراخ لاس لري چې په هيوادکې دامن د نه راتلويواساسي دليل همدغه کارګنل کيدای شي.

دوهم څپرکی

## دکندهارپرلورسفراوزماپخوانۍ خاطرې

**اوس به دکندهارلوري** ته ولاړشو. کله چې دکندهارپه هوايي ډګرکې کښته شوم. سهاردوخته و، تودوخې دومره زوراخيستی نه و. داهغه هوايي ډګردی چې د لښکرګاه څخه کابل ته دتګ پروخت مې ډيرې شپې په کښې تيرې کړې دي. ددې هوايي ډګرڅخه مې رنګارنګ خاطرات راپه زړه شول. ځکه هغه هم دجګړې کلونه وو. د لارې پرسرهم داوسنيو واکدارانوچې هغه وخت جهادي قوماندانان وو، عام وګړي دموټروڅخه کښته کول اوډيروختونه به يې سرونه ورغوڅول. نوځکه دولتي

مامورين، سرتيري، افسران ، دوکانداران اولنډه داچې تقريباً ټولوهغوکسانوچې د دولت دواکمنۍ په چاپيريال کې يې استوګنه کوله ، دالوتکوپه واسطه کابل اويانورو ښارونوته تلل.په هغه زمان کې يوازې دافغان حکومت اوروسانوپوځي الوتکې وې چې خلکوګټه ورنه اخيسته. دباخترااوارياناالوتکوډېرپروازونه نه درلودل . په لښکرګاه ، روزګان ، قلات اونورو وړوښارونوکې يوازې دځرخي الوتکوپروازونه وو . لوی الوتکې په پيل کې ډېرې کمې وې . نوځکه سفرکول څه دخوښۍ خبره نه وه. دلته په اروپايي هيوادونوکې خلک سفرونوته ډېره خوښي کوي . ولې هلته يو ناورين و. په هوايي ډګرونوکې په ځانګړي ډول دکندهارپه هوايي ډګرکې به يو ربښتينی غوبل جوړشو. غواړم ځوخاطرې دلته بيان کړم:

۱ ـ د(۱۹۸۲ز) کال دپسرلي موسم و، غوښتل مې چې ديوې رسمي چارې د ترسره کولوپه موخه دلښکرګاه څخه کابل ته ولاړشم. دتګ لپاره يوازنۍ چاره داوه چې په روسي ځرخي الوتکه کې کندهارته اووروسته دافغاني پوځي الوتکې په وسيله کابل ته ولاړشم. ددې موخې لپاره مې يوروسي مشاورته وويل چې مرسته وکړي ، په هغه وختونوکې مې په روسي ژبه هم ښې خبرې کولای شوای. روسي مشاورومنله اوداسې موسره غوټه کړه چې هروخت ځرخي الوتکه په هواکې ووينم ، بايدځان هوايي ډګرته ورسوم. همداسې مې وکړل . کله چې هوايي ډګرته راغلم ګڼشمير ترخيص شوي سرتيري هم دتللوپه انتظارناست وو. کله چې زه دروسي مشاورسره دالوتکې خواته نژدې شوم ، ناستوکسانودومره هجوم راوړ چې الوتکه يې کلابنده کړه. په دغه موقع کې زه پورته شوی وم. حاضروکسانوهڅه کوله چې الوتکې ته وخيژي. پيلوټانودغه هڅه کوونکي خلک ټيله کول اوالوتکه يې ځای پر ځای هواته جګه کړه. ځوکسان چې په الوتکې پورې ځوړوندوو، په ټيل وهلويې يې هواته د الوتکې له پورته کيدومخکې ، کښته کړل. يوازې يو نفرچې يوترخيصي سرتيری و، په الوتکه پورې ځوړندپاته شواوالوتکه اسمان ته جګه شوه. دانويوه ډېره غمګينه صحنه وه. نفرکوښښ کاوه چې الوتکې ته ننوزي او روسي پيلوټ پرلاسونودتوپک په قنداق واهه چې لاسونه يې ايله شي اوالوتکه هم په هواکې وه. دمرګ اوژوند تر منځ مبارزه وه، صحنه ګړۍ په ګړۍ غمجنه کيده . ځکه الوتکه اهسته اهسته ډېره جګيده. ددې پيښې بيان راته په ليکلوستونزمن کار دی. وروسته يې دهوايي ډګرپه بل سرکې الوتکه کښينوله اوهغه کس يې دالوتکې څخه وغورزاوه. يوازې دده مقاومت وچې ژوند يې ورته وژغوره.

۲ ـ بله هم ورته کيسه ده چې ددولت يوپه پرتليزډول جګپوړی ماموړپه الوتکه پورې ځوړند شو. پيښې په عينې ډول پرمختګ وکړ. خوپه پای کې نوموړی الوتکې ته

ننوت . ولې داسې ګومان کيده چې په دښته کې به الوتکه کښينوي او نوموړی به په زورکښته کړي. دغه کس چې ډيرپه قهرشوی و، نوهڅه يې کوله چې دکوم روسي څخه توپک په زورواخلي اويوبې سنجشه عمل وکړي. دمځکې څخه دالوتکې د پروازارتفاع وروروکميده. ماورته وويل ، داکارکومه ګټه نه کوي نوته دداسې بې ګټې چارې دترسره کولو هڅه مه کوه. که تادلته کښته کړي زه په دې سيمه کې پيژندګلوي لرم ، زه هم درسره کوزيږم. انشأ الله څه به پيښ نه شي. لږوروسته پيلوټانودنورروناستوروسانوسره مشوره وکړه اوهغوی ، دوی ددې کارڅخه منع کړل. ولې نوموړي کس بياهم ډاډه نه و. له دې سره سمدستي الوتکې په يوه پراخه دښته کې دراکښته کيدوحالت غوره کړ. دنوموړي کس دمخ بڼه والوته اوفکريې وکړ چې همدااوس مې کښته کوي . ماهم همدافکرکاوه ، چې ناڅاپه مې پريوې بلې الوتکې سترګې ولګيدې چې خرابه شوې وه اودوی کوم سامان ورته راوړی و. هغه نفرمې پسله ډيرو کلونود روان کال په اوړي کې وليداونوموړي دغه ترخه خاطره رایاده کړه.

۳ ـ اتيايم کلونه وو، دکندهارپه هوايي ډګرکې ديوې پوځي الوتکې په انتظاروم چې يوه افغاني څرخي الوتکه راغله ، کله چې مځکې ته راکوزه شوه، يوکس چې د دالوتکې دټانکۍ ترڅنګ پټ شوی و، راوغورزيد اوپه منډه يې ځان دهوايي ډګر څخه وويست. د الوتکې پيلوټانويې کيسه وکړه چې په اروزګان کې ډيرکسان دې الوتکې ته سترګې په لاروو .چې د ټولوانتقال يې دالوتکې له وسه بهروه . کله مو چې الوتکه هواته پورته شوه په هينداره کې موولیدل چې يوکس دالوتکې په بيرونۍ برخه پورې نښتی اوځان يې ټينګ کړی دي .

داوې دهغه وخت دجګړې ستونزې چې دهمدې اوسنيوواکدارانوډارڅخه چادبس د لارې سفرته زړه نه ښه کاوه. په وروستيوکلونوکې حالت يوڅه ښه شوځکه دباختر شرکت الوتنې ډيرې شوې.

**دکندهارپه هوايي ډګرکې ددوستانوسره ليدنه**

داډول خاطرات مې دکندهارپه هوايي ډګرکې په ماغزوکې ګرځيدل راګرځيدل. دهوايي ډګر ودننه ته دوستان نه شوای راتلای نوځکه مې خپل بکس راواخيست او پرپښودعمومي دروازې ولورې ته وخوځيدم. دعمومي دروازې په مخ کې زما دوستان چې دهيڅ يوه سره مې هم پيژندګلوي نه درلوده، رامخې ته شول او دغيږې په روغبړيې پيل وکړ. هرتن ځان راته راپيژند چې زه ستااخښی يم اويا بل دوست. دښارپرلورمو په دروموټرانوکې حرکت وکړ. دلارې په اوږدوکې به چې دليرې

ښخه دبهرنیودیوځي وسایطوقطارمعلوم شو، په یوه اوازبه ناري شوې چې ودریږه اویوبغل ته شه. ځکه دوی کیسي راته وکړې چې ډیرځله داسې پیښې شوې دي چې کوم موټردریدلی نه دی، بیله اخطاریه فیرښخه یې مخامخ په درنو وسلوډزې وربانديې کړې دي اودموټرسپرلی یې وژلې دي. دهغوی دلیل دادی چې ځان وژونکي په دغه شیبه کې ځان ددوی دموټروسره جنګوي. دواړې خبرې رښتیادي داچې عام ولس څه وکړي اوولې دهغونوروپه ګناه داسې چلندورسره کیږي ، ځواب یې ستونزمن دی. ددوی دقطاروسره نژدې ټول ګرځنده تلیفونونه ترزیاته واټنه کارنه کوي.

**دکندهاردښار لیدنه**

لنډه یې داچې دښارمنځته راورسیدم ، دلته مې ځیني داسې ودانۍ اوځایونه ترسترګو شول چې زمادتنکي زلمیتوب ځیني یادونه ورسره تړلي وو. غواړم یوه بیلګه یې بیان کړم :

زه دیولسم ټولګي زده کوونکی وم چې دښوونځي ښخه کورته دراتلوپروخت دعیدګاه دروازې سره نژدې ( په غالب ګومان ) دټلیفوني شبکې یوه ودانۍ وه ، چې مابه دمه په کې کوله ، دودانۍ مخې ته یوه ستن (پایه) ولاړه وه ، دستنې پرپاسنۍ برخې باندې دبریښناعایقه مشوانۍ مښتې وه . ددغې مشوانۍ یوه برخه ماته وه . اوس چې څه دپاسه څلویښت کاله تیریږي ، مشوانۍ په همغه پخواني حالت پاته اوماته وه . دکندهاردښارلیدنه راته ډیره په زړه پورې وه ځکه څه دپاسه (۲۵) کاله مې کندهار ښارنه و لیدلی. په اتیایموکلونوکې یوه ورځ دشهیدانودچوک سره تیر شوم په رښتیا سړې فکرکاوه چې دبلاګانوښاردی، هرلوري ته کنډوالې ترسترګوکیدې او هرڅوک په دې ډارکې وو چې له کوم لوري به اوس ډزې پیل کیږي . دښارډیرې برخې نړیدلې وې اوپه پخوانیو کوڅو کې دمجاهدینوپټنځایونه دلویوسړکونوپه جوړولو ورخراب کړي وو، ولې داخل هغه ډول ډارنه و. اوس وخت بدلون موندلی دی حکومتي چاروا‌کې دبیرون وتلوجرأت نشي کولای ځکه داوسني پیر(وخت) جګړه ځانمرګوبریدونوډیره پیچلې کړې ده. پرلاروا‌وسړکونومې څوځله دبهرنیوپوځیانو درانه وسایط دخوځښت په وخت کې ولیدل چې په ډیرډاراوبیره به په حرکت کې ول اویوکس به یې دټانک پرسر ولاړاو څلورلوروته به یې څارکاوه. پخوابه په ښارونو کې پوځي قطارونودومره ډارنه کاوه، ډیرڅه به دښارونونه بهرپیښیده. دعیدګاه په دروازه کې چې دولایت مانۍ ده ددیرلیرې واټن ښخه پر تګ اوراتګ بندیزو. دوست مې هغه ځای هم راوښود چې یووخت دهیوادپرجمهورریس، حامدکرزي ځانمرګی بریدشوی و. داسې کیسه یې راته وکړه چې د نوموړې ساتونکي ځان دده

مخې ته واچاوه که نه دنومو ړي دژوندي پاته کيدوچانس نه و. دهغه سرتيري قبريې د احمدشاه بابادګمبدې کيڼ اړخ ته جوړکړی دی.



دهغه سرتيري قبرچې دحامدکرزي په ساتنه کې شهيدشو



داحمدشاه بابامقبره

دښارپه بيلا بيلوبرخوکې وګرځيدم، په ډيره خواشينۍ بايدووايم چې داسې پرمختګ چې د چاسترګې مړې کړي ، نه ترسترګوکيږي. ځوشخصي ودانۍ لکه دکابل په ځيرجوړې شوې دي. ولې نورښار لکه چې چالاس نه وي پروهلای ، داسې په خپل حال پاته دی. يوازې يولوی توپيردادی چې دولايت ودانۍ مخې ته لويه ساحه بنده ده. د پوليسوقومانداني پرپخواني ځای ده ولې مخې ته يې لوی کانکريټي ديوالونه جوړشوي دي. هغه ودانۍ چې ځانمرګي بريدونه وربانديې ترسره شوی وو، ځينې برخې يې تراوسه هم خرابې پاتې وې. دخرقې مبارکې زيارت ډيرښه جوړشوی دی ولې داحمدشاه باباګنبده تقريباً په پخواني حالت پاتې ده ولې حالت يې خراب نه و. په همدغه انګړکې يوچادعصمت مسلم قبرراوښود چې لږځه ويجاړ ښکاريده. داسې کيسه يې راته وکړه چې دطالبانو په زمانه کې يې دده قبر کښلی و ولې اوس يې بيرته دوستانو دلته راوړی دی.





خرقه  مبارکه　　　　　　　　دخرقي مبارکي په انګړکي دعصمت مسلم قبر

## دمیرویس نیکه دمقبرې زیارت

په کوکران کې دمیرویس نیکه زیارت ته ولاړم،چې زړه یې راخوښ کړ، ځکه د پخواني والي ګل اغاشیرزوی په زمانه کې یې ښه جوړکړي دي. یودوست مې را سره ملګری وو، کیسه یې راته وکړه چې دجګړې په زمانه کې داتاریخي مقبره ، مجاهدینودخپل مورچل په توګه کاروله. د مقبرې په دننه کې تاخچې دي، دوی به هلته ناست وو اوپرحکومتي سرتیروبه یې ډزې کولې. نوځکه په نیمه خرابه اوښتې وه. ولې اوس دخدای فضل دی چې ښه ښکلې یې جوړه کړې وه اوښه شنه باغچه یې هم درلوده اومینه وال یې په جوپو جوپوورته راروان وو. دکندهارښاراوس د نوموړې مقبرې تربریده غزیدلی دی نوځکه پرلارې کومه امنیتي ستونزه نه وه.




دمیرویس نیکه مقبره　　　　　　　　دکندهارښار

په زیارت کې مې یوزړه پورې سړی ولید. داسړی فارسیژبی اودهرات ولایت اوسیدونکی و. نوموړي راته وویل چې په دې وروستیووختونوکې مې دمیرویس نیکه دشخصیت په هکله ډیرڅه ولوستل، نومې پریکړه وکړه چې زه به دده زیارت ته حتمي ورځم. دادی اوس ځان بختورګڼم چې دمیرویس نیکه دمقبرې زیارت کوم. د میرونوکارنامې مورډې ته هڅوي چې دخپلو نامدارو مشرانو قبرونوته راشواوځان ته ددوی دغیرتمنوکارنامویه یادولو جرأت اوزړه ورتیاورکړوچې داهیوادواحداو یو موټی وساتو. زمادسفرموخه یوازې اویوازې همدادمیرویس نیکه دزیارت لیدنه وه اوسباپه خیربیرته ستنیږم. نوموړي زماسره دزیارت دبیلابیلوبرخود انځورونوپه اخیستلوکې ډیره مرسته وکړه.





دمیرویس نیکه دمقبرې دودانۍ دننۍ برخه چهل زینه

## دکندهاربښاراودولس ژوندته کتنه

دکندهاربښارډېره پراختیاموندلې ده. یوپرمختګ چې دخلکوپه کوروکې رامنځته شوی دی ، هغه دموډرنوتشنابونوجوړول دي ، چې په ښارکې یې دچټلۍ اوتعفن ډېر مخنیوی کړی دی. بل څه چې زماپام یې جلب کړ، هغه داو، چې واکدارانود خپلو کورنو شاوخوادترافیکواوحتی دعادي تلونکوپرمخ هم لاره بنده کړې ده، چې ښه بیلګه یې دولسمشرحامدکرزي دورواحمدولي کرزي دکورچاپیریال دی چې ډېره پراخه ساحه یې بنده کړې ده. ځیني نورکورونه مې ولیدل چې خاوندان یې لوړپوړي چارواکي هم نه دي ولې دپیسو پیداکولو چل ورغلی دی ، ډیرې ښکلې بنګلې یې جوړې کړې دي اوپرڅلورو لورویې کامرې نصب اوپه وسله بارخلک یې د کورونومخې ته دساتونکوپه حیث ولاړدي. ددوی د کور څخه به چې ماشوم هم بیرون راوت دساتونکوله خوابه بدرګه کیده. دابیخي نوی اوښتنه ده. زمایوپخوانی دوست چې اوس یې په همداسې حالت کې ژوندکاوه اوکله چې کورته ورغلم ساتونکي یې زما دهویت دڅرګندولوپه خاطر څو ځله دننه کورته لاړل ، راغلل . خووروسته مې دننوتواجازه ترلاسه کړه. کورته په ننوتلوسره یوسالون ته رهنمایي شوم . په رښتیانیم ساعت پرماپه دغه مجلل سالون کې د یوه کال په څیر تیرشو. اوهلته مې خدای ته شکراداکړ ، چې څومره نیکمرغه یم چې دومره پیسې نه لرم چې په داسې یو طلایې قفس کې مې بند کړي.

په ښارکې دمدد چوک سره یوه تجارتي سرای ته ننوتم ، سرای پوښلی و، یوازې یوه غټه دروازه یې درلوده ، ولې څوپوړیزه ودانۍ وه. مادودانۍ په دریم پوړکې دچاسره کاردرلود، زماتوجه یوشي ډېره جلب کړه هغه داو چې دودانۍ په هرپوړکې شپږ- اوه جنریتوره چالان وو. زماپه اټکل به تر(۴۰) زیات جنراتوره په دغه ودانۍ کې په یوه وخت کې چالان وو. داچې څومره ږوږ(زوږ) و. دابه یو لوري ته پرېږدوولې

د ودانۍ په مینځ کې دومره لوګی و، چې زه دکوټې په دننه کې په عذاب شوم. دهغه ځای ددفتردیو کارکوونکي سره مې په دې هکله خبرې وکړې هغه په ښکاره وویل چې زه اوس دهمدې دودونوپه وجه ناروغ یم، یوازې مې داچاره سنجولې ده چې د دروازو، او کړکیو چاونو (چاودو) ته اسفنج ورکړم . داچې څومره مرسته کوي خدای ور عالم دی. زه پوره باوري یم چې د هغې ودانۍ ټول هټیوال به حتماً دسږوپه ناروغیو اخته کیږي . داچې ولې داسې اداره نشته چې د چاپیریال اود خلکودسالمې روغتیالپاره ولس ته لارښوونه وکړي ، زماهم دتعجب وړوګرځیده ځکه داخوپه امنیت پورې هم کوم تړاونه لري.

**دباباصاحب دزیارت لیدنه:**

دباباصاحب دزیارت لیدنه هم په زړه پورې وه. دلارې په اوږدوکې شنې سیمې او باغونه ترسترګوکیدل ، ولې ترڅنګ یې دبهرنیوپوځیانولویې اډې هم پرتې وې چې دبرجونواولویوکانکریټودیوالونوڅخه دجګړې بوي راخوت. دباباصاحب زیارت په رښتیادکندهاردپخواني والي ګل اغاشیرزوی دهڅوپه نتیجه کې دخلکودمیلواوخوښیو په ځای باندې اوښتی دی. دزیارت بیلې بیلې برخې مې وکتلې . دزیارت دیو ماهر ملنګ معلومات مې په ملنګانه ژبه واوریدل ، دامعلومات مفت نه وه دسلوافغانیوپه ورکولوبیاهم ملنګ خوښ نه معلومیده. دزیارت سره نژدې یوښکلې هوټل اومنظمې باغچې دشنوچمنونواوګلانوپه درلودلوسره دسیمې ښکلانوره هم زیاته کړې ده.





دبابا صاحب زیارت                    دباباصاحب دزیارت دملنګ

ولې دباباصاحب زیارت ته دلارې په اوږدوکې یوه شي زماډیره توجه جلب کړه. هغه دهمدې لارې په یوه سیمه کې دګل اغاشیرزوی په نوښت دیوه لوی پارک جوړه شوې نقشه ده اوکارېې هم ورباندې پیل کړې دی چې په راتلونکې کې به دخلکو د میلویومناسب ځای وي. ولې زموږپه هیوادکې برسیره پرنوروستونزوتوکمیزې

دښمنۍ هم په لوړه کچه شتون لري. زمادلارې ملګري داسې بیان راته وکړ:
کله چې ددغه پارک چارې پیل شوې، په دغه وخت کې دمجاهدینوپخواني لوی
قوماندان ملانقیب چې دالکوزوپه قوم پورې یې اړه درلوده ، وفات شو. داچې
ګل اغا شیرزوی دبارکزوپه قوم پورې اړه لري نودالکوزوقوم پریکړه وکړه چې
دملانقیب قبربایدپه همدې پارک کې وي. دملانقیب دقبرجوړولوچارې په ډیراساسي
ډول پیل شوې وې مګرکارېې نیمګړی معلومیده. ولې ددې قبرپه جوړیدوسره دګل
اغا شیرزوی هغه پروژه دهمغه موخې لپاره ډیره په زړه پورې نه ښکاري.



دباباصاحب پارک



دملانقیب قبر

بل څه چې زماتوجه یې ډیره جلب کړه هغه داوه چې هرچاته دحاجي لقب استعمالیده
دبیلګې په توګه حاجي ریس صاحب، حاجي مدیرصاحب، حاجي ولسوال صاحب،
حاجي قوماندان صاحب ... دالقب په دې مانا کارول کیږي چې دخپل مقام ترڅنګ
یو روحاني امتیاز هم دځانه سره لري. ځکه نودالقب که حاجي وي یانه ، دمخاطب د
غځولو لپاره کاریږي. ددې څخه ماته داسې سوچ راپیداشوکه پرچاحج فرض وي یانه
، دسیمې ددودپه اساس په هره حلاله یاحرامه وسیله چې کیږي ، بایدحج ته ولاړشي.
داسې کسان خومې ډیر ولیدل چې څومسلسل حجونه یې کړي دي ، ولې دادربدره
خلک، کونډې، یتیمان چې په کوڅوکې وږي ګرځي دهیڅ شتمن توجه یې نه جلبوله.
ترهرڅه لادامهمه وه چې ځوښځې بایدپه نکاح کړي.اوڅو ځله حج ته ولاړ شي .
دخوارویتیمانو، کونډواوبیشمیره معیبینودژوند دشرایطودښه کیدولپاره دهیواد دولتمنو
سره داسې سوچ نه ووچې د مکررحج کولواودځوښځودرلودلوپرځای که ګټورې
پروژې اوکارخانې په کاروا‌چول شي ، ددغه مظلوم ولس لپاره به دیوه لوري دکار
زمینه برابره اودبل لوري به داکاردهیوادپه ابادۍ کې رغنده رول ولوبوي.

**دیوشمیردولتي ادارو لیدنه:**

مادځان سره پریکړه کړې وه چې دخپل کتاب لپاره ځیني اړین موادراټول کړم.ددغې
موخې دترلاسه کولولپاره مې هوډوکړچې لومړی دکندهاردوالي سره ووینم . داچې

دکندهاروالي پر ځای نه و نودوالي صاحب مرستیال ښاغلي انجنیرعبدالطیف اشنا سره مې ولیدل. نوموړی ډیرمهربانه اومودب سړی معلومیده. په ډیره علاقه اومینه یې استقبال کړم. خپل پروګرام مې ورته وړاندې کړ، زمایه غوښتنه یې پراړوندو موسسو استعلام راکړ چې هرډول مرسته راسره وکړي. په رښتیادموټراویونفرست یې هم راته وکړ چې زمالخوایه کورودانی ونه منل شو.( په خواشینې مې خبرتر لاسه کړچې خدای بخښلی انجنیرلطیف اشنادندې ته دتلوپروخت دځانمرګي بریدپه پایله کې ددې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې . په رښتیازموږزوریدلی هیوادیوځل بیاپر هیواد اوخلکویومین انسان دلاسه ورکړ. روح دی یې ښادوي.)

**دکندهارداطلاعاتواوکلتورریاست:**

دکندهاردکلتورپه ریاست کې دښاغلي قدیم پټیال سره زمالیدنه ډیره په زړه پورې وه. دډیرعالي کرکټرخاوندځوان واوداړوندوموضوعاتوپه هکله یې پوره معلومات راکړل. داچې دغرمې خواوه، تودوخه زیاته وه چې دریس په دفترکې د چالانه بادپکې څخه لکه دریګستان په شان ګرم بادلګیده. په تعجب کې شوم چې ددومره ډیروډالروسره بیاهم دیولوی ولایت دفرهنګي چارورياست یوکولراویاایرکاندشن هم نه لري.


داطلاعاتواوکلتورپه ودانۍ کې تاریخي اثار


دپټیال انځور

دطلوع اخبار(۸۹) یمه کلیزه وه. داخبارپرکیفیت اوتاریخي قدامت موخبرې وکړې. دا هم جوته شوه چې دخلکودخبرتیالپاره یوازنۍ معلوماتي سرچینه همدغه اخباردی ولې دمالي لحاظه یې لازم ملاتړنه کیږي. کیدلای شي دیوه لوکس زرې موټرپه بیه داخباربنه بیخي بدلون وموومي. خبره داده چې ډالر باديږي ولې دومره مهمې فرهنګي چارې ته لږه پاملرنه کیږي. د غونډې په پای کې نوموړي دکندهارد لیکوالوځوتوکه کتابونه دسوغات په ډول راکړل. اودودانۍ دمختلفوبرخوعکسونه یې داداري یوکارکوونکي ، زماد کامروپه واسطه واخیستل. چې زه ددغې لیکنې

پواسطه دښاغلی پتیال صاحب اودده د همکارانوڅخه دزړه له کومي مننه کوم هیله
لرم چې دفرهنګې چاروپه پیاوړتیاکې یې بری نصیب شي.




داطلاعاتواوکلتورریاست دځینوبرخوانځورونه

دابایدهیره نکړم چې زمادسفر څخه ترهمدااوسه پورې دکندهارولایت داطلاعاتواو
کلتور ریاست په مرسته تازه خبرونه هره ورځ دښاغلی انجنیرنسیم علیزي په مرسته
زما ویبپاڼې ته رسیږي چې زه یې سمدستي خپروم . دښاغلي انجنیرصاحب اوددوی
د همکارانودقلمي مرستوڅخه یوه نړۍ مننه کوم.

**دکندهاردښځودچاروریاست:**

دکندهارپه اوسنیوحالاتوکې دښځونهضت دډیروګواښونوسره مخامخ دی. په دې اداره
کې کارکول داسې دي لکه څوک چې دیوې جګړه ایزې جبهې په لومړۍ لیکه کې په
جګړه اخته وي. تاسوبه اوریدلي وي چې برسیره پرنوروښځینه فعالینوخپله دښځود
چارومشره څوکاله مخکې ووژل شوه ، روح دی یې ښادوي. داریاست پریوپراخه
اولوی سړک پروت دی، چې مخې ته یې یوځوان سرتیری ولاړو.



دکندهاردښاریوه برخه



دکندهاردښځوچاروریاست ساتونکی

زمادوست له خواراته په ډاګه شوه چې دلته راتلل دخطرڅخه خالي نه دي. خوما
وپتیله چې ډارځکه پکارنه دی چې زمامیرنی خویندې په همدې ځای کې په دنده

بوختې دي، کورونه يې هم په همدغه کندهارکې دي اودوی بې ډاره کارته راځي. ترېوې لنډې پلټنې وروسته ودانۍ ته ننوتم. اداري مديريې يومشرمعززسپين ږيری اوزمادلارې دملګرې پخوانۍ همکارو. په ډېرورين تندي او ځانګړې افغاني مينه يې استقبال کړو. کله چې زموږپه موخه پوه شونويې سمدستي دښځودچارواغلې ريسي ته وروستو. دښځوچاروريسي په ډېراخلاص سره ښه راغلاست راته ووايه. البته د لاس ورکولوروغبړخخه موځان ګوښه کاوه اويوازې مولاسونه ددرناوي په ډول پر ځيګربانډې کښېښودل. اغلې ريسه دمنځني عمرخاونده ، حجاب ته ورته جامې يې اغوستې وې، ويښتان يې په دستمال پټ خو مخ يې ښکاره و. دښځودچاروپه اړوند يې ډېرمعلومات راکړل. دښځودکړاوه ډک ژونديې په ښه ډول دکندهارپه سيمه کې راته انځورکړ. دايې هم زياته کړه چې دمخاليفينو دګواښونو سره سره ددوی په مرسته ځيني لنډمهاله کورسونه جوړېږي چې په دې توګه دسيمې بې وزلو ښځوته دکارموندلوامکانات برابر شي. يوشميرښځې دهمدې کورسونودپای ته رسيدووروسته په دندوګمارل شوې دي. دليک لوست کورسونه هم ددوی په مټ جوړ شوي دي. که په ټوليزډول دشرايطوپه نظرکې نيولوسره ددغوخويندوکاروارزول شي په رښتيا ډېرخه شوي دي. دښځوپه رياست کې هره ګړۍ ګڼه ګونه وه ځکه زه خلورځله نوموړې رياست ته ورغلم. په پای کې دښځودچارومشرې زمادکتاب لپاره خپل نظروليک  چې تاسوبه يې زمايه راتلونکې کتاب کې ولولئ.

### دکندهاردلوی زندان دښځوڅانګه:

دښاغلې والي دمرستيال دامرله مخې دکندهارلوی زندان ته ورغلم. ډېرجګ ديوالونه په عصري اوموډرن ډول جوړشوي دي چې اغزن سيم ورباندې راتاوده. دپخواني زندان سره يې هيڅ ورته والی نه درلوداوامنيتې تدابيري ډېرټينګ بريښيدل.خوپه لومړۍ ورځ بريالی نه شوم چې زندان ته وردننه شم ځکه موظفينوراته وويل چې نن دبنديانوسره دهغوی دخپلوانودليدلوورځ ده. په بله ورځ بياهم دروازې ته ورغلم، پسله ډېرومخابروڅخه وردننه شوم. دزندان دمشرتردفتره اوږده لاره وه. دوهمې تلاښۍ ته چې ورسيدم دنيکه مرغه اړوندافسران زماددوست ټولګيوال وو. نو لوی مشرته يې مخابره وکړه چې يوژورنالست چې دولايت امرلری ستاسود ليدنې لپاره راغلی دی ولې دومره مې واوريدل چې ښه يې تلاښۍ کړئ چې ځانمرګی بريد کوونکې نه وي ،خومقابل لوري ورته په ځواب کې وويل چې :
يودباور وړسړی ورسره دی. دوی هم ملامت نه وو ځکه چاکيسه راته وکړه چې څو وخته مخکې يوځانمرګی بريدپرې شوی و. کله چې دزندان دلوی مشردفترته

ننوتم. نوموړی مشریوجنرال و، دده په دفترکې هم ډیره ګڼه ګونه وه. په دغه ورځ دروغتون مشرډډاکټرانوپه ملګرتیاد زندانیانوسره دروغتیایي مرستولپاره راغلی و.ماته یې چای راکړې اووروسته ما خپله موخه ورته بیان کړه. مشرراته وویل چې زندان دعدلیې وزارت ترامرلاندې دی اووالي ورباندې واک نلري. ماهم ومنله او علاوه مې کړه چې زه یومسافرراغلی یم اوعلاقه لرم چې په ځانګړي ډول دښځینه زندانیانوحالت له نژدې وګورم. که اجازه راکړئ ډیره به ښه وي ، که نه دچایوڅخه مننه. زه همدااوس پرخپله لاره ځم.

## دکندهاردزندان دمشرانځور

لنډه داچې دښځینه زندان دننه ته یې بوتلم . دځینوځایونودانځوراخیستلواجازه یې راکړه. او دزندان ددروساتونکوښځوسره مې ویډیویې مرکه وکړه. یوه ساتونکې په لڅ مخ راته ودریده اودوونوروساتونکوبالاپوښونه واغوستل اوتورې عینکې یې پر سترګوکړې وروسته یې مرکې راسره وکړې. ددوی اصلي ستونزه داستوګنې ځای و، ځکه دداسې دندې په لرلوسره ، کورونوته تلل ، دژوندپه بیه ورته تمامیدای شوای. زمایه انددا ولادونودنفقې پیداکولودوی داسې دندې ته اړایستلې وې. که نه په رښتیا دکندهارپه شرایطوکې ډیره خطرناکه دنده ده. په عمومې ډول مې دبندیانو کوټې ولیدې، شرایط یې ډیربدنه وو، ښځینه بندیانې دومره زیاتې نه وې، ډیرې یې دکوټوڅخه بهرناستې وې خوورسره دمرکوموقع مې ونه موندله.

## دکډوالوریاست :

دکډوالوداداري دمشرسره مې د راغلوکډوالوپه باب خبرې وکړې چې دراستنیدونکو کډوالو ستونزې په ځانګړي ډول دښځواوماشومانوستونزې راته بیان کړې اودخپلې اداري په هکله یې په تفصیل یورپورټ راته راکړ. دمیلمه پالنې څخه یې مننندوی یم. په ټولیزډول مې دخپل کتاب دځیرنوپه هکله دمختلفوخلکواوښځوسره خبرې وکړې چې دجګړې دناخوالوپه اړوندمې ډیرې زړه بوګنونکې کیسې واوریدې چې یو شمیر به یې زمایه راتلونکی کتاب کې ولولئ. یوه کیسه غواړم دلته ولیکم چې تاسود خلکو دژوندانځورښه ورنه تراټکلولای شئ.



دکډوالوریس




دکډوالوریاست

**کسیه دهغه چاپه هکله ده چې لوړې** زده کړې اودبهرنیوپه یوه اداره کې ښه غوښینه دنده لري چې دیوې سیمې مشري یي پر غاړه ده. دنوموړي په غوښتنه یی دنوم اخیستلوڅخه ډډه کوم. کیسه یې داسې راته پیل کړه:

یوه ورځ په خپل شخصي موټرکې دخپلوماشومانواومیرمنې سره کوم لوري ته تلم. د(ده خواجه) دسیمې په ساحه کې دموټروګڼه ګوڼه اولاره بنده وه.ماهم په عادي ډول دلارې خلاصیدوته انتظارکیښ چې په ناڅاپي ډول مې یوهیبتناکه ږغ ترغوږ شو او چې کاته مې ، ماشومانومې په چیغوپیل وکړ. ژردموټرڅخه راکښته شوم د موټرپر یوه بغل مې ځینځیري ټانک تیریږي ، لاسونه مې ورته وښورول چې څه کوئ، نو زما ترچیغواونارووروسته یې ټانک شاته بوتی. په باورویلای شم چې زماجاموا وځیرې مرسته وکړه که نه ټول یې په همدې موټرکې وژلو. بهانه داوه چې ګواکې ما ددوی لاره بنده کړې وه.

## عینومینه:

عینومینه دکندهاردښارډده خواجه دسیمې پراوږدوپرته ده. دولسمشروروراحمد ولي کرزي یوښارګوټی په کې ابادکړی دی. زمادکورنی یوه غړي هلته یوکور درلود او ماهم په هغه سیمه کې یوه شپه ورسره تیره کړه. کله چې دعمومي دروازې څخه دغه ښارګوټي ته ننوتو، موظفوامنیتي کسانودکوردخاوندورکړل شوې د پیژند ګلوي پاڼي ترکتلووروسته دننوتواجازه راکړه. سیمه یې ډیره ښکلې اوشنه وه. دسیمې په دننه کې هیڅ امنیتي ستونزه نه وه. داسی فکرنه کیده چې دکندهارپه ښار کې یم، اروپاته ورته یوه سیمه وه. ددغې سیمې دکورونوبیه ډیره لوړه وه چې یوازې شتمنو رانیولای شول.

موټرونه دکورونومخې ته بیله کومې ستونزې دریدل. دهرې جمعې په ورځ دسیمې د اوسیدونکواوددوی دمیلمنوپه ګډون میله جوړیده هرڅوک په چمنونواوترونولاندې د خپلوماشومانوسره کښېنستلای شول. دکندهاردښارپه اوسنیوکړکیچنوحالاتوکې

داسې یوه سیمه لوی غنیمت ګڼل کیږي. دکورونودننی برخې په ډیرلوړستندرډجوړې شوې دي چې د یوې کورنۍ لپاره داروپایي سټندرډپه نورمونوبرابرې اسانتیاوې ورته په نظر کې نیول شوې دي. دمسلې بل اړخ دادی چې دپروژې خاوندبه څومره پیسې وربا‌ندې ګټلې وي، داچاته معلومه نه ده.

## دښاریا نوکرېه وړه دپخوانیوحالاتوپه پرتله:

دایوه طبعي خبره ده چې دزمان په تیریدوسره دخلکوپه کړووړوکې بدلون راځي، په ځانګړي ډول دافغانستان په شرایطوکې چې څه دپاسه دیرش کاله جګړه روانه ده او دنړۍ دهرګوټ څخه یې دبهرنیوسرتیروپه شتون کې شپې اوورځې سباکړې دي او هم یې د کډوالۍ درانده پیټي پراووړوړي دي. ولې بیاهم خلک دپخواپه شان مهربانه اومیلمه پال دي. یوه ورځ دخپل دوست په غوښتنه په هرات بازارکې دپخوانۍ سینما (اوس یې پرځای دعمري جامع) مخ ته ، دده دورورودوکان ته ورغلو، ددوکان مخې ته یې چوکۍ راویستې اوباندارموپیل کړ. هواتوده وه اودیخواوبوچښلوهره شیبه اړتیا وه. د نوموړي دوکان څنګ ته یوه قصابي وه چې دپخواپه څیرمعمولي دوکان و. د غوښوهررانیونکي دکندهاردخلکودعادت له مخې دپسه دلم غوښتنه هم کوله څکه چې ښه خوړه ښورواجوړه شي. قصاب دمنځني عمرسړی و، زماسره یې هم په خبروپیل وکړ. کله چې مازیاتې اوبه چښلې، سمدستي یې فکرشواوویې ویل چې زه به یوښه ګیلاس ځانګړی شربت درته جوړکړم. طبعي ده چې لاسونه یې هرشیبه په غوښوکې وهل، لږشیبه وروسته یې یودشربتوډک ګیلاس راوړ. ماهم ګیلاس پر سرپورته کړ، ډیرخوندوردغورې(اوموانګورو) شربت وه. دلته دوې خبرې د پاملرنې وړدي:





دقصاب انځور

دکندهارپه چارسوکي دیوصراف سره

لومړی داچې که ماورته ویلي وای چې لاسونه دې په صابون ومینځه بیا ما ته شربت راوړه، ددی مانابه داوای چې زه نه غواړم دولس سره نژدې پاتې شم، خو ډیرکسان دناروغیودډاره داکارکوي. څکه ځینوکسانودلته په اروپاکې دهغه ددوکان

اودنومورِي انځور ولید، ماته یې وویل چې تاڅنګه جرأت وکړ، چې داډول خیرنو لاسونوڅخه شربت وڅښې؟ ولې ماته داړینه بریښیده چې د نومورِي پیرزوینې ته په ډیره لوړارزښت قایل شم. همدې قصاب کیسه راته وکړه چې نن سهاردوو موټر سایکلسپرو زماددغه دوکان ته نژدی یونفرپه ډزومړکړ.
ددې څخه داسې راته وبریښیده چې وژنه، غمونه دومره ډیر اوعادې شوي دي چې دخلکوپه ورځنیوچاروکې کوم بدلون نه راولي.

## دکندهاردهوایي ډګرڅخه دکابل پرلوري الوتنه

دایوبل په زړه پورې سفرو. ځکه دکندهارڅخه هوایي ډګرته ننوتل یوه لویه ستونزه ده چې دډیروتلاښیوسره مل وي. ماپریکړه وکړه چې هوایي ډګرته په هغوبسونوکې ورشم چې دهوایي شرکتونولخوادډغه کارلپاره ټاکل شوي دي.دلارې په اوږدو کې مې پام پراخودښتوته وواوښت . چې ځیرشوم دلارې پر سردښت کې د قبرونولړۍ پیل شوه . ډیره لارهم دادقبرونولړۍ پای ته نه رسیده چې مات اوکاږه لرګي درنګه جنډوسره پرقبرونوترسترګوکیدل. داسې سوچ راپیداشوچې ګواکې د کندهارد ښار خلک ټول مړه شوي اوهمدلته ښخ دي. په رښتیاهم دافغانستان ډیرې پراخې دښتې دزړو، وړو، زلمیانو، پیغلواو ښځو نازنین جسدونه ددیرش کلنی خونړی جګړی په وجه په خپل غیږکې لري، چې په لیدویې دانسان عقل او هوش دسرڅخه ځي. په هر صورت دهوایي ډګریوې برخې ته ټول بسونه راورسیدل اوموږدبسونوڅخه کښته اوهرڅوک په یوه ګوښه کې دانتظارپه حالت ناست اویا ولاړوو. ترڅه وخت وروسته بږغ وشوچې بکسونه موراواخلئ ، تلاښي پیل کیږي . لومړی دیوسرتیري په واسطه دجیبونوتلاښي پیل شوه. هینداره، دنسواروقوطۍ او دې ته ورته شیان یې دجیبونوڅخه راکښل اوپریوکانګریټي دیوال به یې ایښودل کله به چې لږ زیات شول نوټیله به یې کړل، لاندې به یې وغورځول. ماپوښتنه وکړه:
برادر! چراقوطی نصواروسایراشیایی شخصی مردم رابه کثافت دانی می اندازید. شماګفته اید که مردم چی چیزرابایدباخودنداشته باشد؟ بروحاجی صاحب زیادګپ نزن.
تردی تلاښۍ هم په خیرتیرشوم. بږغ وشوچې بکسونه موپریوه قطارکښیږدئ، او تاسې بیرته په خپل ځای باندې ودریږئ. کله چې دیوموظف افغان لخواهرڅه په نظم ځای پرځای شول. یوتورغټ امریکایي سرتیری راغی، ټول بکسونه یې یوځل په

یوه روزل شوي سپي اوبیایې په بل سپي کنترول کړل. خودومره مې یادېږي چې د سپوترراتلو مخکې یوافغان ځوان رږغ وکړ: په بکسوکې خوبه موقران مجیدنه وي؟ کله چې داکیسه خلاصه شوه هرسړي کوښښ کاوه چې په قطارکې ځان مخته کړي زه ناچاره په پای کې ودریدم. یوځوان ماته متوجه و چې زه نوروځوانانودخپل اصلی نوبت څخه لیرې ټیله کړم . نوځوان رارږغ کړ چې حاجي صاحب مخته راشه په ډیر درناوي یې ټول بکسونه دبرقي تلاشۍ څخه تیرکړل ، خدای شته چې دا ځل یې یوازې زماجیبونه ډیر تلاشي نه کړل. په خیرتیرشوم اوترترمینل پورې څه د پښو لاروه چې هرچاخپل بکس بایدتر هغه ځایه رسولای وای. داکارموهم وکړ. کله چې ترمینل ته ورسیدو، دالوتکې الوتنې ته یوه ګړۍ وخت پاته و، یوبغل ته دباغچې په ډول ځای و، نورکندهاریان ناست وو زه هم ورغلم. هرچایوڅه بل څه بیان کاوه ولې یوژبورځوان و چې ډیریې په سیاست اودولتې چاروګوتې وهلې او پرډیرو مسایلویې ګوت نیونې کولې . داسې معلومیده چې دخپلې ښکلې کوچنۍ تورې ږیرې سره یې لوړې زده کړې درلودې. ماداځوان په ډیرادب د بخښنې په غوښتلو وپوښت. ورووره! تاسې په کندهارکې کندهاري ځوانان نه لرئ چې لږترلږه دهوایي ډګرپه دروازه کې ولاړوي اود تلاشۍ پروخت دکندهاریانوځانګړودودونوته پاملرنه وکړي اواړین موضوعات په کندهاري ستایل ورته بیان کړي؟
ده داعتراض اودحالاتوڅخه دبشپړې ناخوښۍ په ډول داسې ځواب راکړ:
نه حاجي صاحب! موږیوازې دخرابۍ اوورانۍ لپاره ځوانان لرو. موږجوړونه نه کوو. زه هم چوپ پاته شوم.
داسې معلومیده چې داځوان دکابل اوکندهارترمینځ ډیرسفرونه کوي ، ځکه ترنورو ډیررند اوچالاکه و. په جیب یې لاس وماندہ اود نصواروبوه کوچنۍ کڅوړه یې راویسته. نوروټولوپه خوښۍ ورته وویل چې تاځنګه خپل نصواررراتیرکړل، زموږ څخه یې وغورځول. ځوان په ډیرویاړاواخلاص لکه (اب حیات) هرسپین ږیري ته کڅوړه وردمخه کړه ولې هرسړي په ډیره لږاندازه نصوارپه ډیره مننه واخیستل او زیاته به یې کړه: هڅه وکړئ چې ټول خلاص نه شي څوک پوهیږي چې الوتکه به کله الوزي. خولږوخت وروسته الوتکه دالوتلولپاره چمتوشوه اوموږدالوتکې لورې ته روان شو. دالوتکې دڅنګ سره دیولوړپوړي افسرپواسطه یوځل بیادجیبونوتلاشي وشوه. یونفراعتراض وکړ چې بیاولې دتلاشۍ اړتیاشته؟ افسرپه درناوي ورته وویل چې ورووره داهرڅه ستاسودښه امنیت لپاره کیږي که نه زه هیڅ اړتیانلرم چې بیابیا مو تلاشي کړم.
داټول داستان مي ددې لپاره نه دی لیکلی چې ګواکې زه په ټولیزډول پرتلاښیو اعترض لرم ولې خواشینی په دې شوم چې ولې زموږپه ګران هیوادکې داسې

حالات رامنځته شوي چې يودبل څخه بيرېږو.

## په کندهارکې دخلکوژوندته يوه کتنه

په ټوله کې خلک لکه دهيوادپه نوروسيموکې دجګړې څخه ډېرستړي دي، عامه بيره اوډارهره شيبه دخلکوپه زړونوکې ځای لري. کله چې د يوې کورنۍ نارينه دسهار لخواخپلودندوته ځي دکوربڅځينه اوپه ځانګړي ډول ميندې ټوله ورځ په اندېښنو او تشويش تيروي. ځوځله متوجه شوم چې ددوستانوسره به دمازديګرلخوا خبرې اوږدې شوې، ميندوبه يې په تکرارتکراروېل چې هلکانوکورته ولاړشئ تياره شوه اوکله چې کورته ورسيدلاست داطمينان لپاره زنګ ووهئ.(په داسې حال کې چې ترجګړې مخکې په کندهارکې رواج و، چې نارينووبه په رستورانواوهوټلوکې تر ناوخته باندارکاوه اودشپې د(۹ – ۱۰ ) بجوپه شاوخواکې کورونوته راتلل . په هغه وخت کې دپښتونستان هوټل، ارياناهوټل اوميرويس هوټل مشهوروو چې مکس او شيريخ يې ډيرشهرت درلود. مکس دشيدوچايوته ويل کيده.) برسيره پردې په تيرو زمانو کې دشپې لخوابه په هرات دروازه کې ګيسونه لګيدل اوخوږې رنګارنګ ميوې به يې پلورلې . زماچې رايادېږي دهغې زمانې دارغنداب دسيمې خواږه زردالو چې چګاوه زردالوبه يې ورته ويل، ډېرخوندوروو. ولې داډول ګڼه ګوڼه اوس دشپې لخوا په توروتياراوډاربدله شوې ده.

په کندهارکې هم دنوروولايتوپه شان ځوانانوډيره مخه دانګريزي اوکمپيوترزده کړې ته کړې وه اوداچاره نژدې دټول هيوادپه لويوښارونوکې يوشانته ده، داخوښه پرمختګ دی ولې ماته يې ځکه اندېښنه راپيداکړه چې ددغودوشيانوزده کړه نژدې ده چې دلوړوزده کړوځای ونيسي اوځوانان وهڅوي چې ژردپيسوپه ګټلوپيل وکړي بيله دې چې دنورواوږدولوړوزده کړوسوچ وکړي. داسې کلتورپه راتلونکې کې ښې پايلې نه لري. دادوه مضمونونه بايدداسې ښه واخلي چې يوازې دښومرسته کوونکو مضمونوپه توګه ترې کار واخيستل شي.

بله داندېښنې وړداوه چې همدااوس دبهرنيانوپه شتون کې خلکوته اسانه وه چې ډالرونوته لاس رسی پيداکړي اوددې سره جوخت دپيسوټولولوحرص ډېرزيات شوی دی چې حتی دهيواد پالنې روحيه يې په لوړه کچه ترسيوري لاندې راوستې ده. داسې کلتوردخلکوروزنه ډيره خرابوي چې وروسته په ټولنه کې په يوناوړه کلتور بدليږي. کله چې بهرنيان خپلوهيوادونوته ولاړشي بيانودډالرو پيداکول ډېرستونزمن کيږي اودخلکودژوندحالت بل ناوړه لوری خپلوي. په ټوليزډول ويلای شم چې ددغو مليارډودالروپه پرتله دخلکوپه ژوندکې ډيربدلون نه ليدل کيږي.

## دریم څپرکی

### دمزارشریف لوري ته سفر

کله چې دکندهاردسفرڅخه راوګرځیدم، په پروګرام کې مې داوه چې مزاری شریف ته سفروکړم، ولې هڅه مې کوله چې یوملګری دځانه سره ولرم اوپریکړه مې کړې وه چې دبس پواسطه سفروکړم چې په لاره کې دسالنګ دغرونوښکلي درې ووینم. داسې یوتصادف شوچې په کابل کې کوم نړیوال کنفرانس واودتلاشی کچه ډیره لوړه شوه. زمایودوست راته وویل که مزارته ځی همدااوس سفروکړه که نه داخو ورځې زه مشوره نه درکوم چې ښارته ووزې ځکه دځان مرګوبریدنوخطرزیات دی او برسیره پردې دښارپه ډیروځایونوکې دګرځیدواجازه نشته. نوماهم ژر پریکړه وکړه چې دمزارپه لوري وخوځیږم. خپل یودوست ته مې تلیفون وکړچې د لارې ملګری مې شي. په همدغه ورځ دجولای دمیاشتې دویمه نیمايي وه اوسهارپرڅلوروبجود خوبه پاڅیدم اوپرپنځه بجې بس حرکت وکړ. په زړه پورې داوه چې هردوست مشوره راکوله چې (۳۰۲ ، ۳۰۳ او ۳۰۴ ) ماډل بنزبسونه مزارته ځي اوزه بایدپه (۳۰۴) بس کې ټکټونه واخلم ماهم همداسې وکړل. ولې په زړه پورې داوه چې ما کوم توپیرونه لید، تولە لاره بیله ایرکانډیشن څخه تقریباًپه (۴۵ – ۴۶) سانتی ګراد ګرمه هواوه اودسرویس کړکۍ خلاصې وې چې شمال داوردلمبې په ډول راننوت. دلارې پرسردسالنګ دنګ اوښکلي غرونه اودطبعیت ښکلا زماروح ارام ساته. خو دلارې په اوږدوکې مې په زړه پورې صحنې ولیدې چې لنډیزبه یې په دې توګه وړاندې کړم:

- په سرویس کې څوښځې ناستې وې چې ددوی څخه ځینومخونه نیمه لوڅ کړي وو ولې یوې ښځې ته متوجه شوم ، په دغه ګرمه هواکې څه دپاسه اته (۸) ساعته په بوغره کې پټ مخ ناسته وه پرلارې یوازې یوه تفریح دلسودقیقولپاره وه اوبایدیاده کړم چې دلارې په اوږدوکې لکه دپخواپه ډول داسې تشنابونه موجودنه وو چې اړتیا رفع شي. دسالنګ پرلویه لاره دنړیوالودراتګ سره سم پرقیرکولوډیرلګښت شوی دی ولې داسې فکرکیدای شوای چې کلونه دالارترمیم شوې نه ده. دبس هرتکان راویښوونکی و. دلارې ډیره برخه داسې وه چې اوم (بیله قیرریزی) سړک به تر دغه پاخه سړک ډیر ښه وای. ولې یوه ګټه یې درلوده هغه داچې اوس په افغانستان کې ډیرې کونډیانې ښځې اوبېوزلي خلک شته نودلارې پرسربه چې کله داسې ځای و، چې بس به تقریباً دریدوته نژدې شو، نودسړک پردواړوغاړوبه فقیرې ښځې ناستې وې اوخلکوبه څه روپۍ ترکړکۍ وروغورځولې.

دلارې پردواړوخواودپخواني شوروي اتحاددجګړوپه وخت کې ډیرپوځي موټري

وسایط سوځولي وو خوداوسایط ډیریې ټول شوي اودقوماندانانوله لوري په پاکستان کې داوسپنې په ډول پلورل شوي وو. ولې بیاهم په ځینولوړودرواودغروپه لمنوکې چې پورته کیدل یې ډیرستونزمن دي، یوشمیرلاوس هم پاته وو چې دتیرې جګړې نښانې یې راښودلې. دتصادف له مخې ځوسوځیدلي ټانکونه په یوهوارځای کې پاته وو چې مایې انځورواخیست چې دهغه وخت دجګړویوه بیلګه ښودلای شي.

**دټانک دلښوانځور**

په وړوتونلواوهم دسالنګ په لوی تونل کې لارداسې کنډوکپړ وه چې دبس حرکت یې ډیرستونزمن کړی و، په تونل کې تورتم و اواوبه بهیدلې. زه به دې ته حیرت وړی وم چې مقابل موټرڅنګه تیریږي. دوست مې دتونل په منځ کې د مجاهدینود جګړې پټنځایونه راپه ګوته کړل اودتونل په منځ کې یې چې دیخنې په وجه اورونه بل کړي وو، نښانې یې په څرګندډول ښکاریدې.

دلارې په اوږدوکې مې ددې لویې لارې دساتنې داړوندوڅانګونړیدلې ودانۍ اود کاره لویدلي زاړه ډول ډول موټري وسایط ترسترګوشول. خولویه ستونزه ګرمه هوااوکنډوکپړلاروه چې دوجودهرې برخې مې دستړیااودردونوفریادونه کول. د ملګري څخه به مې وپوښتل چې دلارې کومه برخه هم جوړه ده که یا؟ زماملګري هره شیبه ډاډراکاوه چې لږوروسته به لارډیره سمه شي نومایوه کیسه ورته وکړه: ( کله چې ماشوم وم دمورسره به دکندهاردپنجوایي کلي ته دنیکه کورته تلم دمور اخښی مې راسره ملګری وه هغه یوصاحبزاده اوپرهیزګاره سړی و. کله چې د پنجوایي په بازارکې دبس څخه کښته شو، تقریباًدوه ساعته دپښولاره بایدوهل شوې وای چې دنیکه کورته رسیدلي وای. ښکلې لاروه، دلارې په اوږدوکې دانګورو باغونه اودمیوه لرونکوونوشنې باغچې وې. کوڅې پیچ پیچ وې زمادخاله خاوند به چې پرهره کږه کوڅه راوګرځید په لوړاوازبه یې وویل: بسم الله الرحمن الرحیم. داچې هواتوده وه زمامورهم دماشومانوپه وړلوستړې شوې وه، فکربه یې وکړ چې ګواکې راورسیدو. وروسته یې خپل اخښی ته وویل دښادۍ اخښی شې ته چې هرځل بسم الله ووایې زه ګومان وکړم چې راورسیدو.) ماهم خپل ملګري ته وویل چې دا عینی هغه کیسه ده. په رښتیاهم هغه ډول کیسه وه. ولې دحق څخه بایدتیرنه شم چې دلارې په اوږدوبرسیره پردې چې غرونه ډیرښکلي معلومیدل، شنو دروهم داښکلا ځوبرابره ډیره کړې وه. ترډیرواټن وروسته دپلخمري ښارته راورسیدو چې ماد محصلۍ په وخت کې لیدلی و. زه دپولتخنیک په وروستي ټولګي کې دخپلو ټولګیوالوسره دې ښکلي ښارته دکرکردډبروسکروپه معدن کې پراکتیک ته تللی وم. پرځای یې بولم چې دهغه وخت یوه خاطره ولیکم: ( دورځې دوې بجې وې چې د بس پواسطه دخپلوافغاني اوروسي استادانوسره پلخمري ته ورسیدو. ددې لپاره چې

داستوګنځي لاربنوونه راته وشي دکرکردمعدن دريس، ښاغلي انجيرسيد اسدالله، استوګنځې ته ورغلو. دده دکور مخې ته يواوږد(شپږګزه) شورليټ موټرولاړ و، دده دکورچوپړکوونکی نوموړي ته ورغی اوزموږدراتلوخبريې ورکړ. نوموړي زموږ په هکله دکورنه لاربنوونه وکړه چې دده مرستيال ډاکټرميرمحفوظ ندايي به زموږد استوګنې اونورواړوندوچاروغم وخوري، ښاغلی سيداسدالله خپله زموږدليدلو لپاره د کوره بهرنه راووت. ښاغلی ډاکټرميرمحفوظ ندايي ډيرپه زړه پورې اومهربان انسان و. چې زما ترفراغت وروسته مودنژدې ځخه پيژندګلوي سره ټينګه شوه. ده هم دافغانستان د(۲۰۰۳زکال) دولسمشری لپاره په لومړنيوټاکنوکې ځان نوماند کړی و. اصلي خبره داوه چې ماارمان درلودچې دمعدن ريس ووينم ځکه په هغه وخت کې دعواماو دولت دلوړپوړوچارواکوترمنځ ډيرواټن و. ولې په خواشينی بايد ووايم چې يوه مياشت هلته وم ولې دنوموړي په ليدلوبريالی نه شوم. نونورهم دنوموړي ليدلوته ليوال شوم اودده په اړوندچې زده کړې يې په امريکې کې کړې دي اونور ډيرڅه مې واوريدل. عجيب ژونددی په (۱۹۸۴ زکال) کې دکانودوزارت دڅېړنو سکروپه رياست کې په يوه دفترکې زه اوهغه ريس ښاغلی سيداسدالله عادي ماموران وو. دی اوس مهربانه سړی واوهغه زماتلوسه هم ماته شوه. ځکه ددبدبې وختونه يې تيرو‌و، شپږګزه موټرېې هم نه و...)

کله چې زه اوزمادلارې ملګری دپلخمري دښارپه منځ کې تيريدلو، نوموړي دسړک کينې لوري ته هغه ښکلې بنګلې راوښودلې چې دجهادځني مشران يې خاوندان دي. خو کله چې ماخپله پورتنۍ کيسه ورته پيل کړه دښاردمنځ سړک دومره خراب و چې ما نشوای کولای چې خپلې خبرې په ده واورم. مافکروکړچې داښارهيڅ مالک نه لري . يوازې يې مځکې غصب اوخپلې بنګلې ورباندې جوړوي. بيله دې چې زړه مې ترخولې راشي ، په خيرترښاروووتلو. خوملګري مې بياهم ډاډراکاوه چې ژر به په بشپړډول قيرسړک ته ورسيږو. لږوروسته دزمري چينې (چشمه شير) ته ورسيدوچې ټول خلک يوڅه انديښمن ښکاريدل ځکه دلته ددولت مخالفين کله ناکله لار نيسي اومسافرين ډيرسرګردانه اوان دبسونوڅخه کښته کوي. ولې موږ بختوروو اوددې ځای څخه هم په خيراوخوښی تيرشوو. کله چې دمزارسيمې ته نژدې کيدلوپه ربښتيا دلارې حالت بدلون وموند اودبدن غړي په اهستګۍ خپلوځايو سره ومښتل. د ماسپښين نژدې (۲) بجې ښارته ننوتولې دمزارښارپه پيل کې مې پريوښکلې اباد‌ۍ سترګې ومښتې چې داسې پرليکلي وو: (کتابخانه فردوسی) ډيره ښکلې ودانۍ وه چې بيلګه به يې نادره وي. ترټاکلي ځای پورې دټکسي پواسطه ولاړو، په ربښتياهم دلارې دواړې برخې ښکلې معلوميدې اوپراخ سړکونه وو. په څرګنده ښکاريده چ ديرش کلنې خونړۍ جګړې دې ښارته ډيرزيان نه دی رسولی اوان دهرواکدارپه

وخت کې ابادۍ هم شوې وې. دټکسي چلونکي معلومات راکاوه ولې په عينې وخت کې يې دوالي عطامحمدنورپه اړوندچې دخپل وخت نامداره توپکوال و، صفتونه کول.

زموږاستوګنځی چې زماددوست يوکورو، دحضرت علي کرم الله وجهه روضې ته ډيرنژدې و. دبده مرغه کله چې زه کابل ته ورسيدم زمامشره خورچې په مزارکې استوګنه درلوده، په حق رسيدلې وه اوزه هلته خبرشوم چې دمزارپرلوري مې حرکت کاوه. لومړی مې دخپلې خورداستوګنځي په موندلوپيل وکړ خوپه همدغه ورځ مې دخپلې خورزوی وموندااوددوی کورته ولاړم دفاتحې لندمراسم مې پرځای کړل او د دوی دکورنۍ سره مې خدای په اماني وکړه. ترهغه وروسته د روضې زيارت ته ورغلم چې دمازديګرپرلمانځه ډيرزيات خلک ولاړوو. ترزيارت اود لمانځه تراداکولووروسته مې زيات انځورونه واخيستل.





دسخي روضه

په حيرتان کې داموسيند

زمادوست هم دخپل کارځخه راورسيد اودنوربنارپه ليدلومو پيل وکړ. دبناربيلې برخې يې راوښودې اوپه هره برخه کې بياهم دوالي ځخه رضايت ښوده. والي د ښارلوی تجاران راغونډ کړي وواوهريوته يې دنده سپارلې وه چې بايددښارپه بيلا بيلوبرخوکې دخپلې خوښې سره سم دښاردښکلا لپاره يوه څلورلارې اباده کړې په دې ډول(۴۸) څلورلارې په رنګارنګ ښايسته ډيزاينونو جوړې شوې وې. دهرتجار څلورلار، دده په واک کې وه چې کوم نوم ورباندې ږدي اوځه ډول ريکلام دځان لپاره کوي. دښپې ناوخته مې دساتيرۍ هغه پارک چې داروپا په ډول ښکلی جوړ شوی دی ولید ، چې په ډنمارک کې موږورته ټيولی وايواودماشومانولپاره يې ډول ډول دلوبووسايل درلودل، دبيلګې په توګه بريښنايي ځانګو، دښويدلوځايونه، څرخي ځانګواونور. په دې پارک کې داسې پروګرام جوړشوی و چې دوې ورځې يوازې دښځو، دوې ورځې دنارينواودرې ورځې دکورنيولپاره يانې ښځې، نارينه او ماشومان وردننه کيدای شوای.

دشپې ډوډۍ مودمزارپه یوه ښکلي رستوران کې چې(الماس) نومیده، وخوړه. هیره دې نه وي چې مخکې تربیرته ګرځیدنې مودسباورځې پروګرام جوړ کړ.






دمزارشریف دښارانځور

په الماس رستورانت کې

د شپې پر(۱۲) بجوویده شو. سباله وخته پاڅیدوترلمانځه اوسهارنۍ وروسته لومړی دپخوانۍ وعدې له مخې دولایت انګړته ولاړوهلته دښځوچارو ادارې ته ورغلوچې تفصیل یې تاسوزماپه کتاب کې لوستلای شئ. وروسته دکودوبرق ریاست ته وخوځیدو. دلارې په اوږدوکې مې د«جنګي قلعه» انځورونه واخیستل داهغه په وینو لړلې کلا ده چې دطالبانوترراپرزولووروسته دامریکې او جنرال دوستم دګډې دسیسې په نتیجه کې دلته په سلګونوپښتانه ځوانان په وحشیانه ډول دخاورو خوراک شول. ترهغې وروسته دکودوبرق ریاست ته ورسیدو. هلته مې ډیرخپل ټولګیوال ولیدل. دفابریکې دښاغلي ریس، تخنیکي مرستیال، انجنیرانواو نورو کارکوونکوله خواپه مینه ومنل شوو. دفابریکې بیلې برخې یې راوښودې اودخپل کتاب لپاره مې دکارګروښځوسره اوږدې خبرې اومرکې وکړې. په مننه مودخدای په اماني وکړه. له دې ځایه دحیرتان په لوروخوځیدو. بایدووایم چې په مزارکې هواډیره توده وه ولې په حیرتان کې تودوخه سوځیدونکې وه. دحیرتان بیلابیلې برخې مې ولیدې او داموپرروددپله په ګډون مې زیات انځورونه واخیستل. دغرمې ډوډۍ مې دخپل دوست په دفترکې وخوړه . خوندورماهیان اوډیرخوندورقابلي پلویې راته جوړکړی و. دډوډۍ ترخوړولووروسته مودوباره دمزارپه خواحرکت وکړاودښارپاتې برخې موولیدلې. میلمهپال بیاهم دماښام ډوډۍ دالماس په رستورانت کې راکړه. ددې لیکنې له لارې خپل ګران دوست ښاغلي معلم صاحب عبدالوهاب اود نوموړي کورنۍ څخه دهغوی ځانګړې میلمه پالنې له کبله مننه کوم.

په دریمه ورځ سهاردوخته دبسانوتمځای ته راغلواوپه پنځه بجې مودکابل په لور حرکت وکړ. بیاهغه اش اوهغه کاسه وه. دلارې پرسره مې مصالحه داره مرچ

رانیول. بل ځانګړي څه پیښ نه شول. یوازې زماملګري دجنرال دوستم اونورو مجاهدوقومانداناتوپه اړونددېرمعلومات درلودځکه په هغه سیمه کې یې اوږده موده دنده درلوده. دلارې په اوږدوکې یې ددوی پرجنایاتوخبرې کولې. که څه هم ماڅو ځلې ورته وویل چې اهسته خبرې کوه اویابه په بل وخت کې پردې کړکیچنومسایلو وړغیږو. کیدای شي په لاره کې امنیتي ستونزه راته پیداکړي. ولې دده دومره زړه ورته ډک و چې هیڅ پروایې نه درلوده. په وروسته کې په اغلب ګومان ددوی د ملاتړوڅخه یوه سړي په لوړاوازوویل : دومره ډېرې خبرې کوئ، زماميرمن چې ناروغه ده، ستادخبروڅخه ستړې شوه. دورځې پر(۱۴) بجوکابل ته راورسیدو، مزاري دوستانومې څوداني خوندور خټکي دسوغات په ډول راکړي وو.

**دمزاردسفرپه هکله څومهم ټکي:**

ټول ښارونه چې مزارهم ورپکښې شامل دی دڅومحدودوکسانوترمنځ ویشل شوی دی. یانې یوڅودګوتوپه شمیرکسان دي چې دښاراوسیمې اقتصادي اوسیاسي واک ورسره دی په دې ډله کې دمزاروالي اویوشمیرنوروواکداران هم شامل دي. بل څه چې دډېرې پاملرنې وړو، دوالي دبهرنیومیلمنودملاقات ودانۍ په دومره کچه لوکسه وه چې ډېرلږ ځایونه به یې بیلګه ولیدل شي. خویوتوپیردکندهارڅخه په دې کې و چې سره د دې چې والي اواړوندواکداران هرڅه لري ولې ترپوې زیاتې کچې یې دغه ولایت ته کارکړی دی. اوخلک ورسره خوښ دي.

**عمومي ارزونه:**

زمادسفرپه هکله دپام وړټکي:

- دکابل په ګډون په هرښارکې محدوده شمیره زورواکان شتون لري چې هرڅه ددوی په خوښه سرته رسیږي. سیاسي واک، پیسې، بنګلې، خوښځې اونوردژوند ټول نعمتونه ددوی په برخه دي. دوی ترقانون لوړدي اودقانون اطاعت ته اړتیا نلري. قانون بایدددوی دحکم سره برابرچلندوکړي. څه ډول چې ددوی زړه غواړي هغسې بایددعمل جامه واغوندي. په دې ډله کې دجهاد پخواني لوی قوماندانان، د نشه اې توکوقاچاق وړونکي، په دولت کې دواک څښتنان اود بهرنیانوسره تړلي کسان شامل دي. بایدووایوچې پورته یادشوي کسان په یوبابل ډول نژدې اړیکې اوتړاوسره لري چې ډېروخت ټاکلې ګټې یودبل سره ویشي اوپه یوه مافیاوي جال کې سره اودل شوي دي.
- اداري فسادپه هغه کچه دی چې مهارکول یې لویه ستونزه ده. په دې چوراو چپاول کې بهرنیان هم لویه ونډه لري. دفسادپرضددادارورامنځته کول دفسادیوه نوې سوړه پرانیزي. په افغانستان کې هیڅ داسې چاره تراجرأ لاندې نه نیول کیږي چې د بډو اخیستلومعامله ورپکښې نه وي.

په یوه شخصي بانډارکې ددولت ځنیولوړپوړوچارواکوسره چې ددولت دپوښتنواو ګرویږنودادار وسره یې تړاودرلود، ناست وم. په بانډارکې داداري فسادپه اړوند خبرې کیدې هرچاخپل نظراومعلومات وړاندې کول. زموږترمنځ څخه یودوست پټه خوله ناست واوخبروته یې غوږنیولی و. وروسته تردېروخبروپرځنګنوشواوپه مانا داره خندا یې چې غمګیني دورایه په کښې ښکاریده، وویل: ماخوپیژنئ چې د عدالت اونظارت کولوپه یوه اداره کې دظاهری واک خاوندیم. ولې تاسوبدې اخیستنه داسې وڅیرله لکه چې په دې هیوادکې واکداران په دې ستونزه ډېرخواشیني وي. مګرنه دادورځې عادي چاره ده. موږته شفاهي امرکیږي چې دفلاني لوړپوړي چارواک دوسیه بیله نورو څیړنووتړئ. موږدلیکلي هدایت غوښتنه کووپه ځواب کې اوروچې دپاسه ماته هم لیکلی هدایت څوک نه راکوي، که یې په شفاهي امرتړې، ښه ده که نه نوځان ته بله دنده ولټوه.
هو! موږځني کسان په سزاهم محکوموو ولې داهغه شمیرکسان دي چې واک یې کم وي اویایې ماغوندې په شفاهي هدایت باندې دځان ددندې ساتلوپه خاطردوسیې تړلې وي ځکه نوداولادډوډۍ چیرته پیداکړو؟ تاسوته مشوردرکوم چې داخبرې پریږدئ دا هرڅه په لوړوکورنیواوبهرنیوځایونواړه لري، سرمه په خوږوئ داداوسنۍ ډیموکراسۍ نمونه ده. بیرته یې په اسویلي ایستولوباندې دیوال ته تکیه وکړه اوبیاد مجلس ترپایه پټه خوله و. په مجلس کې هرچاخپل دسترګولیدلی حال بیان کړ. زماپه اندډغه تفصیل به دموضوع دوضاحت لپاره بس وي.
- دنشه توکوقاچاق: داهم هغه لوی ناورین دی چې افغانستان یې دنړۍ دنشه اي توکو دلوی تولیدونکي اولیږدونکي په لیکه کې درولای دی. ددې ناوړه چارې پیل په لوړه کچه دمجاهدینودپیدایښت سره ډیرتړاولري چې ماخپل په راتلونکي کتاب کې مستند بحث وربانذې کړی دی. په نني افغانستان کې هم داچاره دعادي اوبیچاره خلکوپه واسطه پرمخ نه بیول کیږي. دابه درسته وي چې عادي دهقانان دخپلې یوې ګولۍ ډوډۍ دبرابرولولپاره دتریاکوکښت کوي ولې ددې محصول اصلي ګټه دنشه اي توکو دلویوقاچاقبروپه جیبونوکې لویږي. خوسزابیاهمدغه بیچاره دهقانانوته ورکول کیږي چې په همدې اړوندمې په کابل کې دیومدافع وکیل په قول لیکلي دي اوتاسو به یې زماپه پاڼه کې ژرژوندۍ ویډیویې مرکه هم واورئ. زمادیودوست دکیسې پر بنسټ چې زه سل په سل کې باورورباندې لرم، ولولئ:
زمازوی په یوه بهرني اروپایي هیوادکې استوګنه کوي . دوه کاله مخکې زموږد لیدلولپاره افغانستان ته راغلی و. یوه ورځ یې راته وویل چې پلارجانه زه یوه بهرنۍ ښځه دهغه هیوادڅخه چې زه هلته ژوندکوم، پیژنم اواوس په افغانستان کې دنده لري که اجازه وي، غواړم کورته یې دډوډۍ خوړلولپاره راوبولم. په طبعي ډول مااو

موريې دده غوښتنه ومنله. په ټاکلي وخت زمادزوی دوسته راغله ترپيژندګلوی وروسته وپوهيدوچې نوموړې دنشه اي توکودکنترول په اداره کې دنده لري اودښه واک درلوونکې ده. زموږترمنځ پيژندګلوي ډيره شوه اوپه منظم ډول زمادزوی تر سفروروسته هم کورته راتله. کومه ورځ مې يودوست دنشه اي توکودقاچاق په اړوند کيسې راته وکړې. زمازړه ته راغله چې ددغي ښځې هم دادنده ده، ښه دی چې دا معلومات ورسره شريک کړم. کيدای شي دنشه اي توکوپه له منځه وړولوکې به ډيره رغنده اوپرځای قدمونه اوچت کړي. کومه ورځ چې ليدلوته راغله په خوښی مې ورته وويل چې زه ستاددندې په اړونددېرکره معلومات لرم اوغواړم درته بيان يې کړم چې هم تاسوپه خپله دنده کې برياليتوب لاسته راوړئ اوهم به زموږپه هيوادکې دنشه اي توکوکمبله ټوله شي. په پيل کې په خوښی راته غوږشوه اوماکيسه داسې پيل کړه:

زمايودوست دی چې په دغه کاروبارکې څه لاس لري اوپه کره توګه ددغه ډول قاچاق دکاروبارپه طرزخبردی اودذخيرې ځايونه ورته معلوم دي اوداچې دکومې لارې په لوړه پيمانه قاچاق وړل کيږي، زيات معلومات لري اوتياردی چې دهيواد دملي ګټوپه خاطرستاسوسره هرډول مرسته وکړي ترڅوتاسويې لوی کاروباريان وموميځ اودنړيوال قانون منګلوته يې وسپارئ. زماټولي خبرې يې دځان لپاره وليکلې اودغي ورځې وروسته يې زماسره هرډول اړيکه وشکوله. زمازوی هم هڅه کړې ده چې دپخوانی پيژندګلوی په خاطرټليفوني اړيکي ورسره ټينګې کړي ولې بيانه زه اونه هم زمازوی برياليي شووچې اړيکه ورسره ونيولای شوو.

اوس نوقضاوت لوستونکوته پرېږدم چې داچاره دبيچاره افغاني دهقانانوپواسطه پرمخ بيول کيږي اوکه دنړيوال مافيا واک هم زموږپه هيوادکې چليږي.

بايدخبره رالنډه کړم چې ددې زهرجنې مادې دکښت څخه خلاصون ډيرزيات واک زموږدخلکوسره نه دی. مستقل اوپرهيزګاره دولت اوچاروالکوته اړتياشته چې خپل ولس ته بله چاره ولټوي اودبهرنی مافيالاسونه زموږدهيوادڅخه لنډکړي. سره ددې چې زماداغوښتنه خوب اوخيال دی ولې زموږدولس يوازنی ارمان دی.

**په افغانستان کې دوزګاری ستونزه:**

هغه ځوانان چې زده کړې نلري ترپخوازيات دوزګاری دستونزې سره لاس او ګريوان دي. دښارپه بيلوبيلوبرخوکې مې جوپه جوپه ځوانان وليدل چې دسړکوپر غاړوناست وواوانتظاريې کيښ چې ګوندې خدای مهربان شي اوڅوک يې ديوې چارې دکولولپاره دځان سره بوزي. په دې لړکې يوه ورځ دپوهنتون مخې ته په موټرکې دتيريدوپه حال کې وم چې پوهنتون ته څيرمه دمجللوکورونوپه کوڅوکې ښکلي ځوانان دچټلوښتيوپه پاکولولګياه وو. دوې موضوعاګانې دپاملرنې وړوې:

۱ – تنکي ځوانان چې ددوی دزده کړواصلي موقع ده ولې نوموړي دډیرلږ مزدپه بدل کې په یوه چاره داسې لګیاه دي چې ددوی دراتلونکې لپاره کومه ګټه نه لري.
۲ – ددغه لوکسواومجللوودانیودمخ سړکان اومه(قیرزي نه وو) دومره خراب اوچټل وو چې دموټرحرکت یې ډیرستونزمن کړی و. هیڅ داسې واکدارنشته چې دغه پیسه لرونکي کسان وهڅوي چې دخپل کورمخ قیراوپاک وساتي په داسې حال کې چې پرودانی یې ډیرې زیاتې روپۍ لګولې دي.

**- په نشه اي توکودروږدوکسانوستوزې:**

داهم هغه ستونزه وه چې ډیرې کورنی یې دناخوالوپرتېغرکښنولې دي. ددې ناخوالو اصلي علت په افغانستان کې اوږده جګړه اوپه ځانګړي ډول دافغانانوکډوالي ایران او پاکستان ته ګڼلي شو. ځکه پورته دواړه هیوادونه دډیرپخوانه په دې ستونزه اخته وو. دمجاهدینوواکدارانودخپلي سرمایې دزیاتیدولپاره هم په دې ناوړتیاکې لوی رول لوبولی دی.
- دجګړې ددوام اصلي علتونه بایدله منځه ولاړشي اودترهګروځالي ولټول شي. په هیوادکې دیوسالم اوعادل نظام اړتیاتربل هروخت دجګړې ددرولو لپاره اړینه شوې ده. خلکوته دچاروپیداکول، په دولت کې دکورنیودښمنانواو ترهګرودمنځه وړل، د جګړې ملاتړي ددولت اوواک څخه شړل، د دولت په دننه اودبهرنیانوسره پرمهمو موضوعاتوپه عمل اونظرکې دهمږغۍ رامنځته کول، دملکي وګړودوژني کچه لږ ترینې کچې ته راکښته کول، په پوځ اوپولیسوکې دمسلکي پرسونل استخدامول، د سولې دراوستلولپاره دبهرنیانوسره په ګډه دحقیقي کاري پلان جوړول اونور... داهغه څه دي چې ترهمداوسه زموږپه دولتي اداروانوروسازمانوکې نه ترسترګو کیدل.

**په پای کې دوعاکوم چې زموږپه ګران هیوادافغانستان کې سرتاسري سوله راشي. امین .**